# اتباع الرسول

تالیف

ابو عبدالاحد عبدالرحیم مسلم دوست

المكاتب التعاونية للدعوة والإرشاد بالبديعة والصناعية الجديدة
تحت إشراف وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد
ص.ب: ٢٤٩٣٢ الرياض ١١٤٥٦ - البديعة: تلفون ٤٣٣٠٨٨٨ (اربعة خطوط)
الصناعية: تلفون ٤٣٠٣٥٧٢ - فاكس ٤٣٠١١٢٢ المملكة العربية السعودية

## دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت نه داونلود شوی دی.

## www.aqeedeh.com

برښنا ليک: book@aqeedeh.com

په عقيدې سايت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږۍ په معنا نه ده.

### په فارسی ژبه کې ځينی مفيد سايټونه:

www.aqeedeh.com
www.islamtxt.com
www.shabnam.cc
www.kalemeh.tv
www.islamtape.com
www.blestfamily.com
www.islamworldnews.com
www.islamage.com
www.islamwebpedia.com
www.islampp.com
www.zekr.tv

www. mowahedin.com
www.sadaislam.com
www.islamhouse.com
www.bidary.net
www.tabesh.net
www.farsi.sunnionline.us
www.sunni-news.net
www.mohtadeen.com
www.ijtehadat.com
www. nourtv.net
www.videofarsi.com

# اتباع الرّسُول

تالیف
ابو عبدالاحد عبدالرحیم مسلم دوست

ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد بحائل ، ١٤١٨هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

زينو ، محمد بن جميل

إتباع الرسول ..ـ حائل .

١١٢ ص ؛ ١٢ × ١٧ سم

ردمك : ٦ - ٢ - ٩١٨٧ - ٩٩٦٠

(النص بلغة البشتو)

١ - السيرة النبوية أ- العنوان

ديوي ٢٣٩ ١٨ / ١٨٦٧

رقم الايداع ١٨٦٧ / ١٨

ردمك : ٦ - ٢ - ٩١٨٧ - ٩٩٦٠

ځانګړی

دکتاب نوم : اتباع الرسول

ليکوونکی : ابوعبدالاحد عبدالرحيم مسلم دوست

خپروونکی : ادارة احياء الدعوة الاسلامية

تيراژ : ۵۰۰۰

نيټه : صفر ۱۴۰۹ هـ ق - وزي ۱۳۶۷

دوهم چاپ : ذوالحجه ۱۴۰۹هـ

تيراژ : ۵۰۰۰

# فهرست

| گڼه | موضوع |
|---|---|


| موضوع | گڼه |
|---|---|
| ۱- سریزه | ۱ |
| ۲- اتباع الرسول قرآني حکم دی | ٤ |
| ۳- د رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع د الله اتباع ده | ۹ |
| ۴- د قیامت په ورځ به خلک د رسول الله نو د اتباع ارمان کوی | ۱۸ |
| ۵- د رسول الله صلی الله علیه وسلم خلاف د عذاب او جهنم ته د ننوتو سبب دی | ۲۰ |
| ۶- هغه څوک چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اتباع څخه خلک منع کوی هغه منافق دی. | ۲٤ |
| ۷- د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو مخالف مؤمن نه شی کیدای - | ۲۵ |
| ۸- کوم عمل کی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع نه وی هغه باطل دی - | ۲۷ |
| ۹- اتباع الرسول او د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه | ۳۲ |
| ۱۰- د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وروسته د هیچا اتباع په مسلمانانو لازمه نه ده | ٤۰ |
| ۱۱- د تقلید رد | ٤۳ |
| ۱۲- د تقلید لغوی معنیٰ | ٤۵ |

گڼه موضوع


۱۳ ـ د تقلید اصطلاحي معنیٰ ٤٥

۱۴ ـ تقلید کله شروع شو ٥٢

۱۵ ـ د تقلید رد د سلف صالحینو غلور و اماما نو او نورو دامت د علماوٓ دا قوالو په تا بید ٦٦

۱۶ ـ د اختلاف په وخت کي د حل لاره ٩٧

۱۷ ـ د الله تعالی او د پېغمبر د رسول صلی الله علیه وسلم د حکم په مقابل کي د رائې منل ګمراهي ده ـ ١٠٢

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ان الحمد لله نحمدہ و نستعینه و نستغفرہ و نعوذ بالله من شرور انفسنا و سیئات أعمالنا من یهدہ الله فلا مضل له ومن یضلل فلا هادی له و أشهد ان لا اله الا الله وحدہ لا شریك له و أشهد ان محمدا عبدہ و رسوله.

«يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا».

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ»

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا».

اما بعد:

فان أصدق الحدیث کتاب الله و خیر الهدی هدی محمد صلی الله علیه وسلم و شر الامور محدثاتها و کل محدثة بدعة وکل

بدعة ضلالة وكل ضلالة في النار.

الله سبحانه و تعالیٰ چه کله آدم علیه السلام له جنت څخه را بښکته کاوه نو ورته يې وويل:

« قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ » سورة البقره - ۳۸-

« مونږ وويل کوز شئ جنت څخه ټول لوکه تاسو ته زما له لوري څه هدايت راغی نو هغه چا چه زما د هدايت تابعداری وکړه نه به په هغوی ويره وی او نه به غمجن کيږي »

په دی ايت کښې الله آدم عليه السلام او ټولو بنی آدمو ته دا خبر ورکړی دی چه زه به هدايت رالېږم او د دی هدايت تابعدارو ته يې بشارت او زيری ورکړی دی. د هدايت په هکله د دی ايت په تفسير کښې حافظ ابن کثير په خپل تفسير کښې داسې ليکی:

« قال ابوالعالية الهدیٰ الأنبياء والرّسل والبينات والبيان، و قال مقاتل بن حيان : الهدیٰ محمد صلّی الله عليه و سلّم وقال الحسن الهدیٰ القرآن » تفسير ابن كثير ص ۸۳ ج ۱ /

« ابوالعالية ويلی دی چې له هدايت څخه مراد انبيأ، رسولان او د هغوی معجزی، دلائل او بيان دی. او مقاتل بن حيان ويلی دی چې هدايت عبارت دی د محمد صلی الله عليه وسلّم څخه او حسن بصری ويلی دی چې هدايت قرآن دی ».

نو د ری واړه قوله صحیح دی ځکه چې ټولو امتونو لپاره هدایت انبیاء او د الله فرمانونه دی او اخری امت لپاره اخری پیغمبر خاتم الانبیاء محمد صلی الله علیه وسلم او په هغه باندې د الله له لوري رالیږل شوی کتاب قرآن کریم دی.

نو په هر اُمت باندې د خپل رسول او نبی اطاعت فرض ؤ او هر امت ته چې کله الله تعالیٰ کوم پیغمبر رالیږلی دی هغوی ته یې د دی حکم کړی دی چې زما د رالیږل شوی رسول اطاعت او تابعداری وکړی لکه چې الله تعالیٰ فرمائي:

«وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللَّهِ» الایه سورة النساء - ۶۴.

« او مونږ هیڅ یو رسول نه دی لیږلی مگر د دی لپاره چې د هغه تابعداری وشي د الله په حکم ».

نو هر امت ته چې کوم پیغمبر لیږل شوی ؤ هغوی د هغه رسول او نبی په تابعداری او اطاعت مأمور ؤ.

او مونږ ته الله ج اخری پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د رسول په حیث رالیږلی دی لکه چې فرمائي:

« وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ الایه » سورة آلِ عمران ۱۴۴. « محمد ندی مگر رسول دی له ده نه

محکښې هم رسولان تیر شویدی» او محمد صلی الله علیه وسلم الله تعالیٰ دکوم خاص قوم لپاره نه بلکې ترقیامته پورې ټولو خلقو لپاره رالیږلی دی.

الله تعالیٰ فرمائي:

«وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ» سورهٔ سباء ۲۸.

«مونږ نه يې لیږلی مګر ټولو خلکو لپاره زیرې ورکوونکی او ویره وونکی لکن زیات خلك نه پوهیږي» سورة سبا (۲۸) نو مونږ هم دغه اخرې رسول په اطاعت مأموريو او د ده په منلو کښې د الله رضا، کامیابی او جنت ته داخلیدل او د ده په نه منلو کښې د الله غوسه، ناکامی او جهنم دی.

## اتباع الرّسول قرآني حکم دی

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اتباع په هکله په قرآنکریم کښې زیات نصوص راغلی دی او الله تعالیٰ مونږ ته داحکم کوی چې مونږ د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت وکړو.

«وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ» سورة الانفال (۱)

«او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ که مؤمنان یاست».

او الله تعالیٰ فرمائي:

وَ أَطِيعُوا اللّٰهَ وَ أَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ » سورة التغابن: — ١٢ -

« او د الله اطاعت وکړئ او د هغه د رسول اطاعت وکړئ او که تاسو مخ واړاوه نو زمونږ په رسول بنکاره رسول دی »

او الله تعالیٰ فرمائي:

« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللّٰهَ وَرَسُولَهُ وَ لَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنْتُمْ تَسْمَعُونَ.

سورة الانفال (٢٠)

« ای مؤمنانو د الله او د هغه د رسول ومنئ او د رسول څخه مه اوړئ حال داچې تاسو اورئ »

او الله تعالیٰ فرمائي:

وَ أَطِيعُوا اللّٰهَ وَ الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ » سورة ال عمران (١٣٢)

او د الله اطاعت وکړئ او د رسول الله اطاعت وکړئ دی لپاره چې په تاسو رحم شي او الله تعالیٰ فرمائي:

« وَ أَطِيعُوا اللّٰهَ وَ أَطِيعُوا الرَّسُولَ وَ احْذَرُوا فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ». سورة المائده (٩٢)

او د الله اطاعت وکړئ او ـــــ د رسول اطاعت وکړئ او ووېرېږئ». که تاسو وګرځیدئ نو پوه شئ چې زمونږ په رسول بنکاره رسول دی ».

او الله تعالیٰ فرمائي:

"وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَيُطِيْعُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ اُولٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ" - سورة التوبة (٧١) -

"او مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې ځيني د ځينو دوستان دي امر کوي په نيکۍ او منعه کوي له بدۍ څخه او لمونځ کوي او زکات ورکوي او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي زر ده چې الله به دغه کسانو رحم وکړي. بې شکه الله غالب او د حکمت والا دی".

او الله تعالیٰ فرمائي:

"وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاۗءِ وَالصّٰلِحِيْنَ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا" - سورة النساء (٦٩) -

"او چا چې د الله او د رسول اطاعت وکړ نو دوی به هغو کسانو سره وي چې الله په هغوی انعام کړيدی د انبياء ريښتونو، شهداؤ او صالحينو څخه او دوی ډېر ښه ملګري دي".

او الله تعالیٰ فرمائي:

"وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا" سورة الحشر (٧)

• او هغه څه چې تاسې ته رسول ص درکړي وي نو ويې نيسئ او د څه شي څخه چې يې منعه کړي ياست ور څخه منعه شئ •

رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته قرآن او حديث پرې ايښي دي او د قرآن او حديثو د خلاف شيانو څخه يې مونږ منعه کړي يو.

زمونږ د ټولو اعمالو، افعالو او اقوالو لپاره ښه نمونه رسول الله صلی الله علیه وسلم دی په هر څه کښې بايد د هغه پيروي وکړو او د خلاف څخه يې ځان وساتو. الله تعالی فرمائي:

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا ۝ الأحزاب (۲۱)

• بې شکه تاسو لپاره د الله په رسول کښې ښه تابعداري ده د هغه چا لپاره چې د الله او د قيامت د ورځې اميد لري او الله ډېر ياد کړي • -

نو زمونږ کاميابي په دې کښې ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداري وکړو او د بل هيچا په تابعدارۍ کښې کاميابي نشته.

الله تعالیٰ فرمائي:

قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝ قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ. سورة ال عمران ۳۱-۳۲ .

ورته ووايه ای محمده! که تاسو الله سره محبت لرئ نو

نو ما تابعداري وکړي الله به تاسو سره محبت وکړي او ستاسو گناهونه به وبخښي او الله بخښونکی او مهربان دی ورته ووایه چې د الله اطاعت وکړئ او د هغه د رسول اطاعت وکړئ که دوی په شا وگرځېدل نو بې شکه الله کافران نه خوښوي ".

نو معلومه شوه چې څوک وائي : زه د الله تعالی بنده یم او د هغه سره محبت لرم نو هغه به د الله تعالی د رالیږل شوی رسول محمد صلی الله علیه وسلم اطاعت "منل" کوی او که چا د الله تعالی د رسول ونه منل هغه کافر شو نو ځکه الله تعالی ویل چې " الله کافرانو سره محبت نه کوی " او د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت او تابعداري کښې د فلاح او اطمنان شړوند دی.

الله تعالی فرمائي :

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَ لِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ

سورة الانفال (٢٤).

"ای مؤمنانو د الله او د هغه د رسول دعوت قبول کړئ کله چې تاسو هغه ته رابلي چې تاسو ژوندي کوي ".

# د رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع د الله

## اتباع ده

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اطاعت او تابعداري کښې د الله اطاعت دی نو ځکه مونږ د رسول الله ﷺ په اطاعت مأمور یو.

الله تعالی فرمائي:

«مَنْ يُطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ» سورة النساء ۸۰.

او چا چي د رسول اطاعت وکړ نو بیشکه هغه د الله اطاعت وکړ.

او د رسول اطاعت ځکه د الله اطاعت دی چي هغه یوه خبره هم له ځانه نه کوی بلکي خپله هم د وحی تابعداري کوی او خلکو ته هم د الله وحی رسوی.

الله تعالی فرمائي:

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى» سورة النجم ۳-۴.

او رسول د ځانه خبری نه کوی ندی دا قرآن مگر وحی ده چي ورته کیږي.

او الله تعالی فرمائي:

قُلْ لَا أَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَائِنُ اللهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَا أَقُوْلُ لَكُمْ إِنِّيْ مَلَكٌ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوْحٰى إِلَيَّ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمٰى

وَالْبَصِيْرُ اَفَلاَ تَتَفَكَّرُوْنَ. سورة الانعام - ۵۰ -

اى محمده! ورته ووايه چې زه تاسو ته دا نه وايم چې ما سره د الله خزانې دي او نه زه په غيبو پوهيږم او زه تاسو ته دا نه وايم چې زه فرښته يم زه تابعداري نه کوم مګر د هغه شي چې ماته يې وحي کيږي. ورته ووايه چې آيا برابر دي ړوند او ليدونکی».

او الله تعالی فرمايي:

وَاِذَا لَمْ تَأْتِهِمْ بِآيَةٍ قَالُوْا لَوْلاَ اجْتَبَيْتَهَا قُلْ اِنَّمَا اَتَّبِعُ مَا يُوْحٰى اِلَيَّ مِنْ رَّبِّيْ هٰذَا بَصَائِرُ مِنْ رَّبِّكُمْ وَ هُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ. سورة الاعراف -۲۰۳-

او کله چې را نه وړې دوی ته يو ايت نو وايي چې ولې دې ته يې خپله نه جوړه کوې ورته ووايه چې زه يواځې د هغه تابعداري کوم چې ماته يې زما د رب له لوري وحي کيږي. دا قرآن ستاسو د رب له لوري دلائل دي او هدايت او رحمت دی هغه قوم لپاره چې ايمان راوړي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اتباع په هکله زيات احاديث هم راغلي دي چې د مثال په توګه به زه يو څو لوستونکو ته وړاندې کړم. عن ابن هريرةؓ قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم:

"ما امرتکم به فخذوه وما نهیتکم عنه فانتهوا"
رواه ابن ماجة .

د ابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دی هغه وائي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی،

څه شی باندې چې ما تاسو ته امر کړی وی هغه واخلئ او د څه شی څخه می چې منعه کړي یاست د هغې څخه منعه شئ".

بل روایت کښې راځي؛

عن انس عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: "ثلاث من کن فیه وجد حلاوة الإیمان من کان الله ورسوله احب الیه مما سواهما ومن احب عبداً لایحبه الا الله ومن یکره ان یعود فی الکفر بعد اذ انقذه الله کما یکره ان یلقی فی النار"

انس رضی الله عنه نه روایت دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي؛ "درې خبرې دي چې چا کښې وي نو د ایمان خوند والي به پرې ومومي چا ته چې الله او د هغه رسول د بل هر چا نه زیات محبوب وي، او څوک چې د چا سره محبت کوي یواځې د الله لپاره وي او چاچې دا بده وګڼله چې کفر ته بېرته وګرځي وروسته له دې چې الله ورڅخه خلاص کړېدی لکه څنګه چې دا بده ګڼي چې اور کښې ولوېږي" -

او رسول الله فرمائی

"والذی نفسی بیده لایؤمن احدکم حتی یکون هواه تبعاً لماجئت به" . الاربعین النوویه

قسم دی په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کښې دی، ستاسو څخه یو کس تر هغه پورې مؤمن کیدای نشي ترڅو پورې چې د هغه خواهش د هغه دین تابع نشي چې زه یې راغلی یم؛ او دا هله معلومېږي چې یو حدیث د چا د رائې خلاف راشي نو که هغه خپله رایه پرېښودہ او حدیث یې واخیست مؤمن دی او که حدیث یې پرېښود او د خپل خواهش یې ومنل نو هغه هېڅکله مؤمن کیدای نشي

همدارنګه حدیث کښې راځي ،

"عن انس قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :لایؤمن احدکم حتی اکون احب الیه من والده وولده والناس اجمعین"

متفق علیه

انس رضی الله عنه نه روایت دی هغه وائي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : ستاسو یو کس تر هغې مؤمن کیدای نشي ترڅو چې زه ورته د پلار، ځوی او ټولو خلکو څخه زیات محبوب نشم.

نو هغه خوک چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د محبت دعوه کوي او بیا خپله خبره یا د خپل مشر، امام، پلار او یا بل چا خبره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث په مقابل کښې مني هغه

هېڅکله مؤمن کېدای نشي*.

بل حدیث کښنی راځي

*عن المقداد بن معدیکرب رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا هل عسی رجل یبلغه الحدیث عنی وهو متکئ علی اریکته فیقول بیننا وبینکم کتاب الله فما وجدنا فیه حلالاً استحللناه وما وجدنا فیه حراماً حرّمناه، وإن ما حرم رسول الله کما حرّم الله*

رواه الترمذی وابوداود واللفظ للترمذی

د مقداد بن معدیکرب رضی الله عنه څخه روایت دی هغه وائي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: خبردار! نږدې ده چې یوه سړي ته به زما حدیث ورسېږي او هغه به تخت ځای تکیه کړې وي او وائي به چې زموږ او ستاسې ترمینځ د الله کتاب دی نو پدې کښی موچې څه حلال ومیندل هغه به حلال کړو او پدې کښی چې څه حرام ومیندل هغه به حرام کړو، او بې شکه هغه څه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حرام کړیدي هغه د هغې په شان دي چې الله حرام کړیدي*.

او داځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځان نه څه شی حرام یا حلال نه کړي بلکې د وحی تابعداري کوي، او دا حدیث په پرویزیانو باندې د ښه رد دی چې هغوې وائي: یواځې قرآن

بس دی او احادیثو تر ضرورت نشته ، او ځيني احناف هم د پرویزیانو څخه ځکم ندي ځکه چې دوی هم په د پروځایونوکښې احادیث نه مني او په لیری تاویلونو قرآن او احادیثو سره معارض واقع کوي ، او دا هم وایي چې کتاب الله باندې زیادت په خبر واحد ندی جائز حال دا چې دا خبره بالکل صحیح نده بلکې د پروځایونو کښې احنافو هم په خبر واحد باندې په کتاب الله زیادت جائز کړیدی .

همدا رنګه بل روایت کښی راځي

عن أبي موسى الاشعری رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : إن مثلی ومثل ما بعثنی الله به كمثل رجل أتى قومه فقال : إنى رأيت الجيش بعيني وانا النذير العريان فالنجاء النجاء ، فأطاعه طائفة من قومه فأدلجوا فانطلقوا على مهلهم فنجوا ، وكذبت طائفة منهم فأصبحوا مكانهم فصبحهم الجيش فأهلكهم واجتاحهم فذلك مثل من اطاعنى واتبع ما جئت به ومثل من عصانى وكذب ما جئت به من الحق .

متفق عليه

د ابو موسی اشعری رضی الله عنه نه روایت دی هغه وائي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي : زما مثال او د هغه دین او احکامو مثال چې الله زه پرې رالیږلی یم د هغه سړي په شان دی چې خپل

قوم ته راشی او ورته ووائي چي ما په خپلو سترګو د دښمن لښکر لیدلی دی او زه بربنډ ویره ونکی یم نو ځانونه خلاص کړی، ځانونه خلاص کړئ. نو یوه ډله د دغه د قوم څخه دده خبره ومنی او د شپې لاړ شی نو نجات بیاموی او یوه ډله ورته ووائي چي ته دروغ وائي او خپل ځای کښې سهارکړی نو سهار کښې ور باندې لښکر راشي او هلاك او برباد يې کړی. نو دا دهغه چا مثال دی چي زما يې ومنل او د هغه دین تابعداری يې وکړه چي زه پرې راغلی یم او د هغه چا مثال دی چي زما يې ونه منل او زه چي په کوم حق راغلي يم هغه يې دروغ وګڼل»

دا حدیث ددی ښکاره دلیل دی چي چا د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت او اتباع وکړه نو هغه نجات ومونده او چا چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم ونه منل هغه هلاك او د عذاب مستحق شو.

عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم

«من أطاعنی فقد اطاع الله ومن عصانی فقد عصی الله»

رواه ابن ماجة.

د ابو هریرة رض عنه روایت دی هغه وائي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم

فـرمايلي دی:

"چاچي زما ومنل نو هغه د الله ومنل او چاچي زما و نه منل هغه د الله و نه منل"

همدارنګه بل حديث کښي راځي:

عن ابي هريرة رضی الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلّم قال: كل امتي يدخلون الجنة الا من أبى قالوا ومن يأبى قال من أطاعني دخل الجنة ومن عصاني فقد ابى"

رواه البخاری.

د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل:

زما ټول امت به جنت ته داخليږی مګر هغه څوك نه داخليږي چي انكار يې وكړ. صحابه ؤ وويل: څوك انكار كوی؟ رسول الله صلّى الله عليه وسلّم وويل: چاچي زما ومنل جنت ته داخل شو او چاچي زما و نه منل هغه انكار وكړ".

د رسول الله صلى الله عليه وسلّم د اتباع په هكله زيات احاديث او اثار راغلي دی او دا ځکه چي د رسول الله صلى الله عليه وسلّم په اتباع کښي كاميابي ده او رسول الله صلى الله عليه وسلّم مونږ ته ډير ښكاره او واضح دين پريږ اينبي دی لكه چي فرمايي:

«لقد ترکتکم علی مثل البیضاء لیلها و نهارها سواء»
رواه ابن ماجة من حدیث ابی الدرداء.

بې شکه ما تاسو په سپینه لار پرې ایښی یاست چې شپه او ورځ یې برابره ده.

نو د اسلام دین ډیر واضح او روښانه دی او یوه مسئله هم پکښې مبهمه او نامعلومه نه ده یوازې په هغه چا تیاره او ابهام راځي چې هغه د قرآن او سنت نبوی څخه ناخبره وي او ځان پرې نه پوهوی.

# د قيامت په ورځ به خلك د رسولانو د اتباع آرمان كوي

الله تعالیٰ فرمايي:

„وَأَنذِرِ النَّاسَ يَوْمَ يَأْتِيهِمُ الْعَذَابُ فَيَقُولُ الَّذِينَ ظَلَمُوا رَبَّنَا أَخِّرْنَا إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ نُّجِبْ دَعْوَتَكَ وَنَتَّبِعِ الرُّسُلَ أَوَلَمْ تَكُونُوا أَقْسَمْتُم مِّن قَبْلُ مَا لَكُم مِّن زَوَالٍ“

سورة ابراهيم ۴۴۔

او وويره وه خلك د هغه ورځې څخه چې را به شي دوى ته عذاب او ظالمان به وايي چې اى زموږ ربه موږ ته دى نيږدې ته وروسته كړه موږ به ستا دعوت قبول كړو۔ او د رسولانو تابعدارى به وكړو. ايا تاسو مخكښې له دى قسم نه ؤ كړي چې تاسو ته هيڅ زوال نشته“۔

نو د قيامت په ورځ به وايي چې اى ربه موږ دنيا ته ولېږه چې ستا د رسولانو اتباع وكړو حال دا چې بيا دنيا ته راتلل نشته نو بيا

به ارمان کوی چې کاش هوبز د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداری کړی وای او د نورو خلکو تابعداری مو نه وای کړې.

الله تعالیٰ فرمائي:

"وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلًا ۝ يَا وَيْلَتَىٰ لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا ۝ لَقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَاءَنِي ۗ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلْإِنسَانِ خَذُولًا" سورة الفرقان ۲۷-۲۸-۲۹-

په هغه ورځ چې ظالم به په خپلو لاسونو غاښونه ولګوی وبه وائي چې کاش ما د رسول الله ﷺ لار نیولی وای های افسوس کاش چې ما فلانی په دوستۍ نه وای نیولای بیشکه نه یې د پند (قرآن وسنت) څخه بې لاری کړم وروسته له هغې چې ماته راغي او دی شیطان انسان لپاره تنها بې مرستی پریښودونکی".

نو د قیامت په ورځ به د الله او د هغه د رسول نه منونکی د دی آرمان کوی چې کاش مونږ د رسول الله ﷺ تابعداری کړی وای کاش چې د فلانی مشر، پیر، حاکم او ....... مې نه وای منلي هغه خو زه د الله د سمې لارې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اتباع څخه بل خوا ته اړولای وم.

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم خلاف د

## عذاب او جهنم ته د ننوتو سبب دی.

الله تعالیٰ فرمائي:

وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَ يَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا» سورة النساء - ۱۱۵.

او هغه چا چې خلاف وکړ د رسول ورسته له هغې چې دی ته هدایت ښکاره شو او تابعداری یې وکړه غیر د مؤمنانو د لارې نو وبه یې ګرځوو هغه لور ته چې وګرځید او جهنم ته به یې داخل کړو او ډیر بد ځای دی د ورګرځیدو».

او الله تعالیٰ فرمایي:

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَمَنْ يُّشَاقِقِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ» سورة الانفال - ۱۳.

دا په سبب د دی چې هغوی خلاف کړی ؤ د الله او د هغه

د رسول او هغه چا چې خلاف وکړ د الله او د هغه د رسول نو بې شکه الله سخت عذاب والا دی.

او الله تعالیٰ فرمائي:

«تِلْكَ حُدُودُ اللّٰهِ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيْهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ».

سورة النساء - ۱۳ - ۱۴ -

دا د الله حدود دي او چا چې اطاعت وکړ د الله او د هغه د رسول نو دا سې جنتونو ته به يې داخل کړي چې لاندې ترې ويالې بهېږي په دې کښې به هميشه وي او دا لويه کاميابي ده او هغه چا چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړه او د هغه حدودو څخه يې تجاوز وکړ نو اور ته به يې داخل کړي هميشه به پکښې وي او د هغه لپاره سپکوونکي عذاب دی.

الله تعالیٰ فرمائي:

«فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ» سورة النور - ۶۳ -

نو هرو مرو دې وويرېږي هغه کسان چې د رسول د طريقې نه خلاف کوي چې دوی ته به فتنه ورسېږي او يا به ورته دردناک

ناك عذاب ورسیږي.

تفسیر ابن کثیر د دی ایت په تفسیرکښي داسي ليکي:

(فليحذر الذين يخالفون عن امره) اى عن امر رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو سبيله ومنهاجه وطريقته فتوزن الأقوال والأعمال بأقواله وأعماله فماوافق ذلك قبل وماخالفه فهومردود على قائله وفاعله كائنا من كان كما ثبت فى الصحيحين وغيرهما عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قال: "من عمل عملا ليس عليه أمرنا فهو رد" اى فليحذر وليخش من خالف شريعة الرسول باطنا وظاهرا أن تصيبهم فتنة) اى فى قلوبهم من كفر او نفاق او بدعة (او يصيبهم عذاب اليم) اى فى الدنيا بقتل أوحد أوحبس أونحو ذلك.

تفسیر ابن کثیر ص۳۰۷ ج۳

د (عن امره) نه مراد د رسول الله صلى الله عليه وسلم امردی چي هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم لار، طريقه، طرزعمل او شریعت دی نو اعمال او اقوال به د هغه په اقوالو او اعمالو تلل کیږي نو هغه چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اعمالو او اقوالو سره برابر وي قبليږي به او کوم چي مخالف وي نو هغه به د هغه ويونکي او کوونکي باندي رد کیږي هر څوک چي وي.

لکه چي په صحیح بخاری او صحیح مسلم او نورو کتابونو کښي

صحیح حدیث ثابت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي :
«چا چې داسې عمل وکړ چې زموږ په طریقه نه وي نو هغه رد دی».

نو معنی دا شوه چې اړه مرودی وویریږي هغه کسان چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د شریعت څخه ظاهري او باطنی مخالفت کوي چې دوی ته به ددوی په زړونو کښې فتنه ورسیږي د کفر، نفاق او بدعت څخه. او یا به ورته دردناک عذاب ورسیږي. په دنیا کښې په قتل، حد، حبس (بند او جیل) او یا داسې نورو سره.

# هغه څوک چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اتباع څخه خلک منع کوي هغه منافق دی

الله تعالی فرمائي :

"وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا" . النساء - ٦١

"او کله چې دوی ته وویل شي چې راشئ هغه کتاب ته چې الله رالیږلی دی او رسول ته نو ته به گورې منافقان چې بندوی خلک له تا نه په بند ولو سره" .

نو دا کار د منافقانو دی چې د الله تعالی د کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اتباع څخه خلک منع کوي او دا سې منافق صفته خلک په اوسني وخت کښې ډېر زیات دي چې هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اتباع او د الله تعالی د غوره کړي دین څخه خلک په ډول ډول پلمو منع کوي کله وایي چې دا حدیث زمونږ د مذهب څخه مخالف دی ، کله په ډېرو بعید و تاویلونو سره خلک د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طریقو څخه لیرې کوي او کله دیوې د ینې درسگاه ، جوماتونو او ټولنې څخه خلک بندوي او وایي چې هلته لاړ نشی هغه خلک وهابیان دي او زمونږ مذهب نه مني . . . . . .

# د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو مخالف

# مؤمن نشي کېدای

الله تعالیٰ فرمايي:

" فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ
ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا

النساء (٦٥)

نه ده داسې لکه څنګه چې داخلك ګمان کوي ، او ستا په رب

زما قسم دی هېڅکله دوی مؤمنان کېدای نشي تر دې چې

حاکم و نه ګڼي تا په هغه څه کښې چې د دوی ترمینځ پېښېږي

اختلاف پیدا شوی وي او بیا ستا د فیصلې په هکله په خپلو ځانونو

کښې تنګي و نه مومي او تسلیم شي په تسلیمېدو سره " .

الله تعالیٰ په خپل ذات قسم کوي چې داخلك نرهغی مؤمنان

کېدای نشي ترڅو چې د اختلاف په وخت کښې په تا فیصله و نه کړي

او بیاستا فیصلې ته داسې غاړه کښېږي دي چې پرې خوشحاله وي او خفه نوي ، نو د اختلاف په صورت کښې مونږ ته پکار دي چې په قرآن او حدیثو فیصله وکړو او د خلکو په رأیو او اجتهادو نو فیصلې ونکړو ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته همدا دوه شیان پرې ایښی دي چې یو قرآن او بل نبوي احادیث دي لکه چې په حدیث کښې راځي :

عن ابن عباس رضي الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم خطب في حجة الوداع فقال : " ترکت فیکم ما إن اعتصمتم به فلن تضلوا أبداً کتاب الله وسنة نبیه ". رواه الحاکم

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په حجة الوداع کښې خطبه ولوسته نو وې فرمایل :

" ما په تاسو کښې داسې څه پرې ایښی دي که تاسو پرې منګولې ولګولې نو هیڅکله به ګمراه نشئ چې هغه د الله کتاب دی او د هغه د نبي سنت دی ".

نو معلومه شوه چې هدایت په همدې دواړو کښې دی او په دې دواړو باندې په عمل کولو کښې دی او که دا دواړه چا پریښودل نو اړو مرو به ګمراه او بې لیاری شي .

# کوم عمل کښې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع نوي هغه باطل دی

الله تعالی فرمائي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَشَاقُّوا الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَىٰ لَن يَضُرُّوا اللَّهَ شَيْئًا وَسَيُحْبِطُ أَعْمَالَهُمْ ۞ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ﴾

محمد: ۳۲ - ۳۳

بې شکه هغه کسان چې کفر يې کړېدی او د الله د لارې نه يې خلك بند کړيدي او د رسول خلاف يې کړيدی وروسته له هغې چې هدايت ورته ښکاره شو نو هيڅکله الله ته هيڅ ضرر نشي رسولی او زر دې چې الله به يې عملونه برباد کړي. ای مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د رسول اطاعت وکړئ او خپل عملونه مه بربادوئ.

نو عملونه هله باطل او بربادېږي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع پکښې نوي او هر هغه عمل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم طريقه

پکې نه وي هغه بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده
لکه چې په حدیث کښې راځي :

عن جابر بن عبد الله الأنصاری قال خطبنا رسول الله صلی الله علیه وسلم فحمد الله واثنی علیه ثم قال: إن افضل الهدی هدی محمد صلی الله علیه وسلم وشر الأمور محدثاتها وکل بدعة ضلالة ".

د جابر بن عبد الله الانصاري رضي الله عنه نه روايت دی هغه وائي چې مونږ ته رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبه ولوسته نو د الله حمد او ثنائي ووئيله بيائي وفرمايل : بهتره لاره او هدايت د رسول الله صلی الله علیه وسلم هدايت او طريقه ده او بده کارونو کښې بدې دي هغه نوي نوي کارونه دي او هر بدعت ګمراهي ده "

په يو حديث شريف کښې راځي :

عن عائشة رضي الله عنها قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : من احدث فی امرنا هذا ماليس منه فهو رد ".

اخرجه البخاري ومسلم وابوداود .

د عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل : چاچې زمونږ په دې دين کښې نوی کار پيدا کړچې د دی څخه نه وي نو هغه رد دی " .

په بل روايت کښې راځي چې چا داسې عمل وکړچې زمونږ طريقه

پکښې نوه هغه رد دی.

نو هر هغه عمل یا هر هغه قول او فعل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع پکښې نوي هغه رد دی یعنې مقبول ندی او بدعت دی او هر بدعت گمراهي ده او لکه څنګه چې داوسنی زمانې مبتدعین وائي چې بدعت کښې حسنه شته نه دا صحیح نده بلکې هر بدعت گمراهي ده او بدعت کښې سه نشته لکه چې امام مالك رحمه الله وائي:

من ابتدع في الإسلام بدعة يراها حسنة فقد زعم أن محمداً صلى الله عليه وسلم خان الرسالة لأن الله يقول «اليوم أكملت لكم دينكم وأتممت عليكم نعمتي...» فما لم يكن يومئذ دينا لا يكون اليوم ديناً.

اصول في البدع والسنن ص٤

چا چې اسلام کښې بدعت وکړ او هغه ئې حسنه بدعت گانه نو ده داگمان وکړ چې محمد صلی الله علیه وسلم په رسالت کښې خیانت کړیدی ځکه چې الله تعالی فرمائي «نن ورځ ما تاسو ته ستاسو دین پوره کړیدی» نو هغه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کښې چې څه شی دین نوه نو نن هم دین ندی.

عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائي:

« اتبعوا ولا تبتدعوا فقد كفيتم » رواه الدارمی

تاسو د رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع وکړئ او بدعت مکوئ

ځکه چې تاسي ته دين پوره او بس شوي دی".

همدارنګه يو بل روايت کښي راځي :

"عن مجاهد قال دخلت مع عبد الله بن عمر مسجداً وقد اذن فيه ونحن نريد أن نصلي فيه فثوب المؤذن فخرج عبد الله بن عمر من المسجد وقال : اُخرج بنا من عند هذا المبتدع ولم يصل فيه"

رواه الترمذی

د مجاهد نه روايت دی هغه وائي چې زه د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما سره يو جومات ته ننوتم چې په هغه کښي اذان شوی ؤ او موږ غوښتل چې لمونځ پکښي وکړو نو مؤذن آواز وکړ چې لمانځه ته راشئ نو عبد الله بن عمر د جومات نه وت او وئې ويل : موږ ددې بدعتي له جوماته وباسئ - او لمونځ ئې پکښي ونکړ".

لمانځه ته دعوت ورکول په ظاهر کښي ښه کار معلوميږي لکن د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وخت کښي دا اذان نه غير داسي آواز نه ؤ شوی نو ځکه ورته عبد الله بن عمر بدعت ووايه.

نو که اسلام کښي چيرته بدعت حسنه وای دغه کار به ضرور بدعت حسنه ؤ. او عبد الله بن عمر رضي الله عنهما به ورته ښه کار ويلای ؤ لکن هغه دغه د لمانځه دعوت ته بدعت وواېه

او دا ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع پکښې نوه .

همدارنګه اذان کول ښه کار دی لکن د اختر لمانځه لپاره اذان کول نشته او که چا وکړ ګناه ئي وکړه ځکه چه دغه کار رسول الله صلی الله علیه وسلم ندی کړی نو دا بدعت دی .

همدارنګه نور زيات داسې مثالونه شته چې د هغې نه دا معلومیږی چې اسلام کښې بدعت حسنه نشته او هر بدعت ګمراهي ده .

نو هر هغه عمل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع پکښې نوي هغه بدعت او باطل دی .

# اتباع الرسول او د رسول الله صلی الله علیه وسلم

# صحابه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام رضی الله عنهم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اتباع کښې د پر کلك وو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداری يې په هر څه کښې کوله لکه چې په حديث کښې راځي :

"عن ابن عمر رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم

أنه اتخذ خاتماً من ذهب فلبسه فاتخذ الناس خواتيم الذهب فقام النبی صلی الله علیه وسلم فقال : إنی کنت البس هذا الخاتم وإنی لن البسه ابداً فنبذه فنبذ الناس خواتيمهم" رواه احمد

د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د سرو زرو يوه گوته جوړه کړه او په لاس يې کړه نو نورو خلکو هم د سرو زرو گوتې جوړې کړې

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم پورته شواو وې ویل چې : ما
داکوته په کوته کړی وه . خوزه به یې نور هیڅکله په کوته نه
کړم نوکوته یې وغورځوله خلکو هم خپلې کوتې وغورځولې
همدارنګه بل روایت کښې راځي :

عن مجاهد عن عبد الله بن عمر ان النبی صلی الله علیه وسلم
قال :

لا یمنعن رجل أهله أن یأتوا المساجد فقال ابن لعبد الله
بن عمر فإنا نمنعهن فقال عبد الله : أحدّثك عن رسول الله
صلی الله علیه وسلّم وتقول هذا قال فما کلمه عبدالله حتی
مات . رواه أحمد .

د مجاهد نه روایت دی :
هغه د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت کوی چې نبی
کریم صلی الله علیه وسلم ویلی دي : یو سړی دی خپله ښځه
د دی نه نه منع کوي چې جوماتونو ته لاړې شي نو د عبد الله
بن عمر رضی الله عنهما یو ځوی وویل : چې مونږ به یې منع کوو
عبدالله بن عمر وویل چې زه درته د رسول الله صلی الله علیه
وسلّم حدیث بیانوم او ته دا خبره کوی . مجاهد وایې چې عبدالله
ن عمر خپل ځوی سره ترمرګه پورې خبرې ونه کړې "
همدارنګه بل روایت کښې راځي :

عن سالم بن عبدالله انه سمع رجلا من اهل الشام وهو يسئلُ عبدالله بن عمرعن التمتع بالعمرة الى الحج فقال عبد الله بن عمر هي حلال فقال الشامي ان اباك قد نهى عنها فقال عبد الله بن عمر: أرأيت ان كان ابي نهى عنها وصنعها رسول الله صلى الله عليه وسلّم امر ابي يتّبع ام امر رسول الله صلّى الله عليه وسلّم فقال الرجل بل امر رسول الله صلّى الله عليه وسلّم فقال لقد صنعها رسول الله صلّى الله عليه وسلّم. رواه الترمذى۔

د ساله بن عبد الله نه روايت دى هغه وائى چې ما د يوه شامي سړى نه واوريدل چې د عبدالله بن عمر څخه يې د حج په هر ځوكې د عمرې پوښتنه كوله عبدالله بن عمر وويل چې دا كار حلال دى نو هغه شامى وويل چې ستا پلار (عمر) خو خلك ور څخه منع كول عبد الله بن عمر وويل: ته ما ته دا ووايه چې كه زما پلار ترې منعه كړى وى او رسول الله صلّى الله عليه وسلّم دا كړى وى. نو زما پلار تا بعدارى به كېږي او كه د رسول الله صلى الله عليه وسلّم ؟۔

هغه سړي وويل بلكې د رسول الله صلى الله عليه وسلّم د حكم تا بعدارى به كېږي نو هغه وويل چې رسول الله صلى الله عليه وسلّم دا كار كړى دى۔

نو عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د رسول الله صلی الله علیه وسلّم د حدیث په مقابل کښې د خپل پلار عمر رضی الله عنه خبره ونه منله ـ افسوس د هغه چا په حال چې د رسول الله صلّی الله علیه وسلّم د حدیثو په مقابل کښې د بنځو متلونه، د پلار او نیکه خبرې، د امام او پېشوا خبرې او داسې نورې بې دلیله خبرې او اقوال منی او احادیث پرېږدي ـ

همدارنګه بل روایت کښې راځي:

عن سعید بن جبیر

عن عبدالله بن مغفل انه کان جالساً الیٰ جنبه ابن أخ له فخذف فنهاه وقال: ان رسول الله نهی عنها وقال «إنها لا تصید صیداً ولا تنکی عدواً وانها تکسر السن وتفقأ العین» قال: فعاد ابن اخیه یخذف فقال: أحدثك أن رسول الله صلی الله علیه وسلّم نهی عنها ثم عدت تخذف لا أكلمك ابداً» ـ رواه ابن ماجة ـ

سعید بن جبیر د عبدالله بن مغفل نه روایت کوي چې د هغه خواته د هغه وراره ناست ؤ نو یوه وړه کیڼکې (ډبره) یې ګوزار کړه نو عبدالله بن مغفل منع کړ او ورته یې وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلّم له دې نه منع کړې او ویلې یې دي: چې دا د وړې کیڼکې ګوزار نه ښکار کوی او نه د ښمن

منع کوي بلکې داغاښ ماتوي او ستړکه را اوباسي،، سعید
وائې چې د عبدالله ورارة بیا دا کوزاروته شروع کړل نو عبدالله
ورته وویل چې زه تاته حدیث وایم چې رسول الله صلی الله
علیه وسلّم دا کار منع کړی دی او ته بیا کوزاروته کوی؟
زه به تا سره هېڅکله خبرې ونه کړم.

همدارنګه بل روایت کښې راځي:

عن زید بن اسلم.

عن ابن عمر قال دخلت علی النبی صلی الله علیه وسلم
وعلی ازار یتقعقع فقال من هذا قلت عبد الله بن عمر قال
ان کنت عبد الله فارفع ازارك فرفعت ازاری الی نصف السا
قین فلم تزل ازرته حتی مات. رواه احمد.

زید بن اسلم د عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت کوي
هغه وائې چې زه رسول الله صلی الله علیه وسلّم با ندې ورننوتم
او زما لولنګ ؤ چې بنکته ځانګیده نو رسول الله صلی الله علیه وسلّم
وویل چې دا څوك دی؟. ما ورته وویل چې عبدالله بن عمر.
هغه وفرمایل چې که ته د الله بنده یې نو لنګ (پرتوګ) دی
اوچت کړه نو ما خپل پرتوګ د پنډیو نیمائې پورې اوچت
کړ- زید وائې چې د عبدالله پرتوګ ترمرګه پورې اوچت
ؤ-

نو صحابه کرام زموږ د ملا یانو او یا عوامو په شان نه ؤ
چې کله ورته حدیث ووېل شي نو هیڅ پروا پرې
نه کوي بلکې ما ډېر داسې خلک لیدلي چې ځانته د علم
نسبت کوي او لویه دعوه لري خو کله چې ورته د غه
رنګ حدیث ویل شوی نکه عبدالله بن عمر ته چې وویل
شو نو هیڅ پروائې نه ده کړې بلکې استهزاء یې کړې ده
وقد جربنا بذلك مراراً۔
د عبدالله بن عباس نه چا د یوی مسئلې په باره کښې پوښتنه وکړه
نو عبدالله ورته په حدیث جواب ورکړ هغه سړي وویل چې عمر
او ابوبکر داسې ویلي دي نو عبدالله بن عباس په غوسه
شو او ویې ویل:
یوشك ان تنزل عليكم حجارة من السماء اقول قال
رسول الله صلى الله عليه وسلم و تقولون قال عمر وابوبکر؟
تفسیر أضواء البیان ص ۵۱۶ ج ۷ ۔
مجموع فتاوىٰ شیخ الاسلام ص ۲۱۵ ج ۲۰ ۔
نږدې ده چې په تاسو د آسمان نه تیږې راووریږي زه
وایم چې رسول الله صلى الله علیه وسلم داسې ویلي او تاسو
وائي چې عمر او ابوبکر داسې ویلي دي"۔
نو صحابه ؤ د حدیث په مقابل کښې د عمر او ابوبکر

رضی الله عنهما قول داسي بدګمانه چې ورته يې وويل آسمان نه به دړ باندې تېږې نازل شي ـ لوکه عبدالله بن عباس چېرته اوس ژوندې وای او زمونږ دا زانده مقلدين يې ليدلي وای نوخه به يې ورته ويل چې دوی د هر پير فقير او امام خبرې په حديث مخکښې کوي .

همدارنګه په بل روايت کښې راځي :

عن ابن الحنظلية قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم نعم الرجل خريم الاسدى لولا طول جمته و اسبال إزاره فبلغ ذلك خريما فجعل يأخذ شفرة يقطع بها شعره الى اذنيه ورفع ازاره الى انصاف ساقيه ـ

رواه احمد ـ

ابن حنظليه نه روايت دی هغه وائي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :

خريم اسدی ډېر ښه سړی دی خوکه د سر ويښتان يې ډېر اوږده نه وای او پرتوګ يې د ګيټکيو نه ښکته نه وای نو دا خبره خريم ته ورسيده نو هغه قيچی راواخيسته او ويښتان يې د غوږونو نيما يې پورې غوڅ کړل او پرتوګ يې د پنډيو نيمائي پورې پورته کړه ـ

بل روايت کښې راځي :

عن عمران بن حصين قال قال رسول الله صلّى الله عليه وسلّم الحياء خير كله او ان الحياء خير كله فقال بشير بن كعب انا لنجد في بعض الكتب او قال الحكمة ان منه سكينة ووقار لله عز وجل ومنه ضعفا فاعاد عمران الحديث و اعاد بشير مقالته حتى ذكر ذلك مرتين او ثلاثا فغضب عمران حتى احمرّ عيناه و قال أحدثك عن رسول الله صلى الله عليه وسلم و تعرض فيه لحديث الكتب ؟ رواه احمد

عمران بن حصين روايت دی هغه وائي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی چې حيا ټول خير دی او يا بې شکه حيا ټول خير دی نو بشير بن کعب وويل مونږ په ځينو کتابونو او يا حکمت کښې ليدلي دي چې ځينې د حيا نه سکون او وقار دی الله تعالیٰ لره او ځينې ضعف دی نو عمران بيا حديث و وايه او بشير بيا خپله خبره وکړه تردې چې دا خبره ئې دوه يا درې ځل وکړه نو عمران داسې په غصه شو چې سترګې ئې سرې شوې او وئې ويل چې زه درته د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث بيانوم او ته پکښې د کتابونو خبرې کوې ؟

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ورسته

## د هیچا اتباع په مسلمانانو لازمه نده

لکه چې مخکښې مو یاد ونه کړه الله تعالی په خپلو بندګانو خپل اطاعت فرض کړیدی او بیایې د خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم اطاعت فرض کړیدی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ورسته د هیچا اطاعت په موږ فرض ندی بلکې که د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مقابل کښې چا د بل هرچا خبره ومنله نو هغه ګمراه شو او د امراؤ اطاعت هم د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د اطاعت لاندی دی او د الله په معصیت کښې د هغوی اطاعت نشته بلکې که د الله په معصیت یې امر کاوه بیایې نه منل فرض دي په حدیث کښې راځي :

عن عبد الله بن ثابت قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم والذى نفس محمد بيده لو اصبح فيكم موسىٰ ثم اتبعتموه وتركتمونى لضللتم ... الحديث ؟ رواه احمد

" عبد الله بن ثابت نه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي : قسم دى په هغه ذات چي د محمد نفس د هغه په لاس كښى دى كه موسىٰ عليه السلام تاسي ته راغى او بيا مو هغه تابعدارى وكړه اوزه مو پريښودم نو ارومرو به گمراه شئ " .

نو د موسى عليه السلام تابعدارى سره لدى چي هغه پيغمبر ؤ لكن د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مقابل كښى د هغه منل گمراهي ده نو افسوس د هغه مقلدينو په حال چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم صحيح حديث ورته ورسيږي او بيا د مذهب تقليد كوي او هغه حديث نه مني نو ايا دا به گمراه نوي بلكي دا تر ټولو لوى گمراه دى .

همدارنگه حديث كښى راځى :

عن جابر بن عبد الله رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا تسألوا أهل الكتاب عن شئ فإنهم لن يهدوكم وقد ضلوا فانكم إما أن تصدقوا بباطل او تكذبوا بحق فإنه لو كان موسى حياً بين اظهركم ماحلّ له إلا أن يتبعنى . رواه احمد

د جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دی هغه وائي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :

"د اهل کتابو نه د هیڅ شي پوښتنه مکوئ ځکه چي هغوي هیڅکله تاسو ته سمه لاره نشي ښودلی او هغوی گمراه شوي دي ځکه چي یا به تاسو د باطل تصدیق وکړئ او یا به د حق تکذیب وکړئ . او که موسی علیه السلام ژوندی وای ستاسو مینځ کښي نو هغه ته بل څه روا نه ؤ غیر لدی چي زما تابعداري وکړی ."

او بل روایت کښي راځي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی :
"والذی نفس محمد بیده لو بدالکم موسی فاتبعتموه وترکتموني لضللتم عن سواء السبیل ولو کان حیاً وادرك نبوتي لا تبعني ." رواه الدارمی من حدیث جابر

" قسم دی په هغه ذات چي د محمد نفس د هغه په لاس کښي دی که موسی علیه السلام تاسو ته راښکاره شی او د هغه تابعداری موو کړه او زه مو پریښودم نو د سمي لاري نه به بي لاري شئ او که موسی علیه السلام ژوندی وای او زما نبوت يي میندلای وای نو اړو مرو به يي زما تابعداری کړیوه ."

نو موسی علیه السلام چي پیغمبر ؤ که ژوندی وای هغه ته به د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت څخه وروسته د دبل چا اطاعت روا نه ؤ نو بل چا ته به څرنګه روا شي .

# د تقلید رد

د اتباع الرسول په څکبنی ډېر زیات خبرې ونه دي څکبنی ټول نصوص چې د اتباع په هکله ذکر شو د تقلید رد هم پکښې وشو لکن د زیات وضاحت او تائید لپاره به زه د لوستونکو لپاره د تقلید لغوی او اصطلاحي معنی وکړم او بیا به د نصوصو په رڼا کې او د علماؤ د اقوالو په تائید د تقلید رد وړاندې کړم ، کرخه هم مونږ ه الله تعالی په قرآني نصوصو او نبوی احادیثو سره د بل هر قسم استدلال څخه مستغنی کړي یو ، خو یواځې او یواځې د دې لپاره به د علماؤ اقوال ذکر کړو چې ځینو ناخبرو لوستونکو ته دا ښکاره شي چې دا مسأله زمونږ د ځانګړې رأی او فکر نتیجه نده بلکې ټول حق پرست محققین علماء زمونږ د دې کاروان ملګري دي او د تقلید رد لاددې کبله ضروري ګڼم چې د تقلید په سبب په اسلامي امت کښې لوی تفرق او زیاتې شخړې او اختلافات را منځته شوي دي تر دې چې خلك د قرآن او

نبوی احادیثو څخه د پرلیری شویدي د ائمه کرامو به هکله دومره غلو او زیاتی شروع شویدی چې د هغوي اقوال بلکې د هغوی څخه لاندې د نورو زیاتو خلکو اقوال د قرآن او حدیث په ځای استعمالیږي او داسې استدلال پرې بیول کیږي چې تر به وائي دغه اقوال اسمانی وحی ده عام خلك د دین سره دومره نا آشنا شویدی چې د یوه متل او قرآن ترمنځ یا د یوه شعر او حدیث تر منځ یا د فقهاؤ د اقوالو او نصوصو ترمنځ هیڅ تمیز نشته بلکې که چیرته یو چا ته په دیني مسئله کښې یو قرآنی ایت یا نبوی حدیث بیان شي نو هغه به سمدستی د دې په مقابله کښې د یوه عالم قول یا د عبدالرحمن بابا یو شعر پیش کړی. عوام خو لاڅه چې د پر علماء مونږ داسې لیدلي دي چې کله ورته یو حدیث وویل شي نو هغه په ډیر غضب سره د حدیث د نه منلو لپاره د خلکو اراء او اقوال وړاندې کړي نو مونږ حیران یو چې دوی پدې نه پوهیږي چې د نص په مقابله کښی نور څه دلیل نشی کیدای او که سره د پوهې داسې کوي :

فإن كنت لاتدرى فتلك مصيبة

وإن كنت تدرى فالمصيبة أعظم

که نه پوهیږی او داسی کوی نو دا هم یو مصیبت دی او که پوهیږی او سره د پوهې داسې کوي نو بیا خود پرلوی مصیبت دی .

## د تقليد لغوي معنى :

تقليد د تفعيل د باب څخه مصدر دی او د "قلادة" د مادې څخه اخیستل شوی دی ، قلادة هغه غاړکه او غړوندی ته ویل کیږي چې د څناورو او څارپایانو په غاړه کښې اچول کیږي نو تقلید په لغت کښې غړوندي په غاړه کښې اچولو ته وائي لکه د حدیثو په کتابونو کښې "باب تقلید الغنم" یا "تقلید الإبل" راغي يعني د حج په مناسکو کښې هغه د هديي څاروي په غاړه کښې غاړکه اچول او غړوندی اچول .

## د تقلید اصطلاحی معنی :

تقلید په اصطلاح کښی د یو چا خبره بې دلیله منلو ته وائي، لکه چې امام ابن القيم د تقلید اصطلاحی معنی داسی را نقلوي

" التقليد معناه في الشرع الرجوع إلى قول لا حجة لقائله عليه وذلك ممنوع منه في الشريعة والإتباع ما ثبت عليه حجة " .

اعلام الموقعين ص ١٧٨ ج - ٢

د تقلید معنیٰ په اصطلاح کښې دا ده چې یو داسې قول اوخبرې ته رجوع کول دي چې د هغه ویونکی ته پرې دلیل نه وی او دا په شریعت کښې منع دی او اتباع دی ته وائي چې دلیل پرې ثابت وی» ملا علی قاری حنفی په خپل کتاب شرح قصیدهٔ امالی ص۳٤ طبع دهلی کښې لیکی.

«والتقلید قبول قول الغیر بلا دلیل فکأنه لقبوله جعله قلادة فی عنقه»

«تقلید د بل چا خبره منل دی بې دلیله، نو دا د دی د قبول له کبله داسې شو لکه چې دا خبره یې یوه غاړکۍ او غړوندې کړ او په خپله غاړه کښې یې واچاوه»

همدارنګه مسلم الثبوت کښې راځی:

«التقلید العمل بقول الغیر من غیر حجة»

«تقلید د بل چا په خبره بې دلیله عمل کول دی»

مختصر ابن حاجب د تقلید معنیٰ داسې کوی:

«التقلید العمل بقول غیرك من غیر حجة - مختصر ابن حاجب ص۲۳۱

تقلید دی ته وائي چې ته د بل چا په خبره بې دلیله عمل وکړې.

همدارنګه.

تقلید ته علم نه ویل کېږي او مقلد ته عالم نه ویل کېږي

لکه چې امام ابن قیم رحمه الله دعلماؤ څخه دا قول را نقلوي:

"أجمع الناس على أن المقلد ليس معدودا من اهل العلم وأن العلم معرفة الحق بدليله". اعلام الموقعين ص۷ ج-۱

"خلکو پدې اجماع کړیده چې مقلد په علماؤ کښې نه شمېرل کېږي او علم دحق معرفت دی په خپل دلیل باندی".

په قرآن کریم کښې داسې آیتونه ډېر زیات دي چې علماء په هغې باندې د تقلید په رد کښې استدلال کوي،

الله تعالیٰ فرمائي: اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله ...... الآية" (التوبه - ۳۱ -)

ډوی (مشرکانو) خپل علماء او پیران په ربوبیت نیولی دالله نه سوا".

دغه آیت چې کله عدی بن حاتم د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریده نو ددې په تفسیر کښې ئې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې مونږ خوئې عبادت ندی کړی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

"أليس يحرمون ما احل الله فتحرمونه ويحلون ما حرم الله فتحلونه"

ایا داسې نه وو چې هغوی به هغه څه حرام کړل چې الله حلال کړي وو نو تاسو به حرام کنل او هغوې به هغه څه حلال

کړل چې الله حرام کړي ؤ نو تاسو به حلال ګڼل ؟.

عدي بن حاتم وویل چې همداسې وه نو رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ورته وویل :

«فتلك عبادتهم». «همدا د هغوی عبادت ؤ.»

رواه احمد والترمذی.

نو دی نه معلومه شوه چې یهودو او نصاراؤ د خپلو علماؤ بې دلیله تقلید کړی ؤ او همدغه تقلید شرك دی او کوم مقلدچې د چا تقلید کوی هغه یې په ربوبیت ونیوه.

او الله تعالی فرمائي :

«وَكَذَٰلِكَ مَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَآ إِنَّا وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا عَلَىٰٓ أُمَّةٍ وَإِنَّا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم مُّقْتَدُونَ ۝» سورة زخرف ۲۳ -

«او همدارنګه مونږ تا نه مخکښې په هیڅ یوه کلی کښې ویره ونکی ندی لیږلي مګر هغو عیاشو خلکو ویل چې مونږ خپل پلاران په یوه دین موندلی دی او مونږ د هغو د قدمونو پسې اقتدا کوو» او د پلارانو تابعداری یې بې دلیله د وحی په مقابل کښې کوله.

او الله تعالی فرمائي :

إِذْ تَبَرَّأَ ٱلَّذِينَ ٱتُّبِعُوا۟ مِنَ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوا۟ وَرَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ

وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْاَسْبَابُ . وَقَالَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا لَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّاَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّؤُا مِنَّا كَذٰلِكَ يُرِيْهِمُ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ وَمَا هُمْ بِخَارِجِيْنَ مِنَ النَّارِ ۝

سورة البقرة ١٦٦- ١٦٧-

کله چې بیزار شي هغه کسان چې تابعداري یې شوې ده د هغو کسانو نه چې د دوی تابعداري یې کړیده او عذاب وګوري او ټولې وسیلې پرې ختمې شي. او هغه کسان به ووايي چې د نورو تابعداري یې کړیده کاش چې مونږ یوځل دنیا ته واپس شوی وای نو د دوی (مشرانو) څخه به داسې بیزار شو لکه چې مونږ نه بیزار شوی دی همدارنګه الله دوی ته خپل عملونه ورښايي چې په دوی باندې به افسوس وی او دوی به دا ورڅخه نه وځي».

او الله تعالی فرمايي:

«وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا اِلٰى مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ قَالُوْا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا اَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُوْنَ»

سورة المائدة - ١٠٤-

او کله چې دوی ته وویل شي چې را شئ هغه کتاب ته چې الله رالیږلی او رسول ته نو وايي چې مونږ ته هغه څه

بس دی چې خپل پلاران موپرې موندلی دی۔ اګر که د دوی پلاران په هیڅ شي نه پوهېږي او نه په هدایت دي»

او الله تعالی فرمایی:

«وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا»

سورة الاحزاب ۶۷

او وبه وایي چې ای ربه موږ د خپلو سردارانو او لویانو منلی وُ نوموږ ئې تخه یې سمه لاره ورکه کړیوه»

علامه شنقیطی ددی ایت لاندې لیکی:

ومثل هٰذا فی القرآن کثیر من ذم تقلید الآباء والرؤساء وقد احتج العلماء بهٰذه الأیات فی ابطال التقلید ولم یمنعهم کفر اولئك من الاحتجاج بها لأن التشبیه لم یقع من جهة کفر احدهما وإیمان الآخر وإنما وقع التشبیه بین التقلیدین بغیر حجة للمقلد کما لو قلد رجل فکفر وقلد آخر فأذنب وقلد آخر فی مسألة دنیاه فأخطأوجهها کان کل واحد ملوماً علی التقلید بغیر حجة •

تفسیر اضواء البیان ص ۴۹۱ ج ۱

پدې دول د پلرونو او مشرانو د تقلید بدي په قرآن کریم کښی ډېره زیاته ده۔

د تقلید په باطلولو علماؤ پدې آیتونو دلیل نیولی دی او

د هغه مخکنیو کمز علماء پدی ا یتونو دلیل نیولو څخه ندی منعه کړي ځکه چې تشبیه پدی کښی نده چې یو کافر او بل مسلمان دی بلکې تشبیه د هغه مقلدینو په منع کښی واقع شوېده چې د خپل مشر بې دلیله منل کوي ، او دا داسی ده لکه یو سړی تقلید وکړي نو کافر شي بل تقلید وکړي گناهګار شی او بل د دنیا په کار کښی تقلید وکړي نو هغه د صحیح طریقې څخه خطا شی نو دا هر یو په بې دلیله تقلید باندی ملامت دی .

# تقلید کله شروع شو

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کوم پېړۍ ته خیرالقرون ویلی دی یعنې په اولنیو دریو پېړیو کښې تقلید هیڅ وجود نه لاره بلکې دینی مسائل به د قرآن او احادیثو څخه زده کېدل او په هغې به عمل کېده د کوم عالم څخه به چې چا د کومې مسئلې په هکله پوښتنه وکړه نو هغه به د کتاب الله او سنة الرسول (قرآن او حدیث) په استدلال جواب ورکاوه او د خلکو رأیو پسې تلل نه وو .

محدث دهلوي شاه ولی الله رحمه الله وائي :

اعلم ان الناس كانوا قبل المائة الرابعة غير مجتمعين على التقليد الخالص لمذهب واحد بعينه

حجة الله البالغة ص ١٢٢

"پوه شه چې د څلورمې صدۍ نه مخکښې خلك د یوه خاص مذهب په تقلید باندې نه وو را ټول شوي ."

همدارنګه شاه ولی الله په خپله رساله "الانصاف" ص۷۰ کښي ليکي :

"إعلم أن الناس في المائة الأولى والثانية غير مجتمعين على التقليد لمذهب واحد بعينه" .

يوه شه چي په اوله او دوهمه هجري پېړۍ کښي خلک ديوه شخص په تقليد راټول نه وو .

شيخ خجندی وائي :

فالسلف لا يعرفون ذلك وكانوا لا يقلدون إلا صاحب الشرع صلى الله عليه وسلم وقد صح اجماع الصحابة والتابعين وتابعيهم باحسان من السلف الصالحين على المنع من أن يقصد انسان إلى قول بعينه فمن اخذ بجميع اقوال أبي حنيفة اوجميع أقوال مالك او اقوال الشافعي اوجميع أقوال أحمد اوغيرهم ولم يعتمد على ماجاء في الكتاب والسنة فقد خالف اجماع الامة كلها واتبع غير سبيل المؤمنين . هدية السلطان ص۱۲

سلف صالحين دا تقليد نه پېژنی او د صاحب الشرع يعنی رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه غير د بل چا تقليد يې نه کاوه او د سلف صالحينو يعنی صحابه وُ تابعينو او تبع تابعينو اجماع صحيح ثابته ده چي هغوی دا کار منع کاوه چي يو انسان يوائې د يوه شخص قول

پسې روان وي نو چا چې د ابو حنيفه ټول اقوال واخيستل يا يې د مالك ټول اقوال واخيستل يا يې د شافعي ټول اقوال واخيستل، يا يې د احمد ټول اقوال واخيستل او يا يې د بل چا ټول اقوال واخيستل او په هغو احكامو يې اعتماد ونه كړ چې په كتاب او سنت (قرآن او حديثو) كښې راغلي دي ـ نو د غه شخص د ټول امت د اجماع څخه مخالفت وكړ او د مؤمنانو نه پرته د بلې لارې تابعداري يې وكړه ـ

علامه خجندي ليكي :

وهذه المذاهب أمور مبتدعة حدثت بعد القرون الثلاثة ـ

هديت السلطان صـ١

او دا مذاهب د بدعت كارونه دي چې د دري صديو (پيړيو) څخه وروسته پيدا شوي دي.

امام ابن قيم رحمه الله د تقليد او مقلدينو په هكله داسې وائي :

وانما حدثت هذه البدعة في القرن الرابع المذموم على لسان رسول الله صلى الله عليه وسلم ، فالمقلدون لمتبوعهم في جميع ما قالوه يبيحون به الفروج والدماء والاموال ويحرمونها ولا يدرون اذلك صواب ام خطأ على خطر عظيم ولهم بين يدي الله موقف شديد يعلم فيه من قال على الله ما لا

يعلم انه لم يكن على شئ.

اعلام الموقعين ص۱۸۹ ج-۲

داد تقليد بدعت څلورمی صدۍ چې رسول الله صلى الله عليه وسلّم ورته بده پيړۍ ويلې د دې څخه وروسته پيدا شوې نومقلدين دخپلو مشرانو په ټولو اقوالو رنجونه (دبنځو عورتونه) او وينې او مالونه رواکوي، او ناروا کوي او پدې نه پوهيږي چې دا خبره صحيح ده او که خطا ده. او دوی په دې کارونو سره په يو لوی خطر کښې واقع شوي دي. او دوی لپاره د الله په مخ کښې ډېر سخت مقام دی چا چې په الله هغه څه ويل چې پرې نه پوهيده بيا به په دې پوه شي چې مونږ په هيڅ دليل نه وُ».

علامه شنقيطی په خپل تفسير اضواء البيان کښې ليکي:

فتقليد العالم المعين من بدع القرن الرابع ومن يدعى خلاف ذٰلك فليعين لنا رجلاً واحداً من القرون الثلاثة الاول التزم مذهب رجل واحد معين ولن يستطيع ذلك أبدا لأنه لم يقع البتة».

تفسير اضواء البيان ص۴۸۸-۴۸۹ ج-۷

ديوه معلوم او ټاکلی عالم تقليد کول د څلورم قرن

د بدعاتو څخه دی او که څوك د دی خلاف دعوه لری نو موږ ته دی د دری اولنیو هجری پیړیو نه یو سړی راپه ګوته کړی چې هغه دیوه تاکلی سړی د مذهب تقلید په ځان لازم کړی وی، او دا کار هیڅکله نه شي کولی ځکه چې داسې هیڅ شوی نه دی".

همدارنګه لورد پر زیات علماء لیکی چې تقلید یو بدعت دی چې د خیرالقرون څخه وروسته پیدا شوی دی نو زه د هغه مقلدینو څخه پوښتنه کوم چې هغوی دین په څلورو مذهبونو کښې محصور او محدود کښي او دیوه تابعداری اسلام کښي بلکې د اوسنی زمانې ځینو مقلدینو دا هم لیکلي دی چې «بی مذهبه دله مسلمانان کیدای نشي» نو زه ورته وایم چې د دغه مذهبونو د پیدا کیدو نه مخکښې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه وروسته خلك د چا په مذهب وو؟ آیا هغوی مسلمانان وو او که نه صحابه کرام، تابعین او تبع تابعین دچا په مذهب وو آیا هغوی مسلمانان وو او که نه؟ آیا هغه امام چې ته یې تقلید کوی هغه دچا په مذهب وو؟ د هغه پلار دچا په مذهب وو ایا دغه ستا امام او دهغه پلار مسلمانان وو او که نه؟ که د دی ټولو سوالونو ځواب دا وی چې دغه خلك

ټول مسلمانان ؤ نو بيا تا دغه فتوىٰ په كوم دليل اوكوم جرأت سره په دغه ټولو مخكنيو او وروستنيو خلكو ولګوله ايا د الله نه نه ويريږي ؟ آيا په قبر كښې به تا ځخه دا پوښتنه كېږي چې ته دچا په مذهب وى ايا د قيامت په ورځ به تا ځخه دا پوښتنه كېږي چې تا ولى د فلانى امام خبره نه وه منلى ؟ اوكه تا ځخه به دا پوښتنه كېږي چې آيا تا د الله تعالىٰ او د هغه د رسول صلى الله عليه وسلم خبره منلى وه اوكه نه ؟. ضرور به داسې يوه ورځ راځى چې ته او ستا په څېر نور ډېر ړانده مقلدين به د الله په مخ كښې ولاړ وى او الله تعالىٰ به درته وايئ چې په كوم دليل دى حلال اوحرام جوړ كړى ؤ ؟ په كوم دليل دى ديوه غير معصوم خبره منلې وه ؟. او په كوم دليل دى دغه غير معصوم د ربوبيت او رسالت درجې ته رسولاى ؤ ؟ ولى دى زما د رليږل شوى رسول خبره نه وه منلى ؟ ايا ما تا ته نه ؤ ويلى چې : مَا اٰتَاكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا » آيا ما تا سو ته نه ؤ ويلى چې « لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللهِ اسوة حسنة » .

نو راشه اى مقلده اوس دى وخت دى الله ځخه دخپلو تيرو اعمالو مغفرت وغواړه او په اخلاص سره توبه وباسه

اوپواخې د الله تعالی کتاو د هغه د رالیږلی شوی اخری رسول محمد صلی الله علیه وسلم د احادیثو پیروی وکړه او د فلان او فلان خبری پریږده د هغه وړځی څخه څکبنی د ځان دخلاصون په فکر کښی شه چې هلته به بیا نه دنیاته راتلل وي او نه به بیا پښېمانی څه فائده لري.

امام ابن قیم الجوزیة په خپل کتاب اعلام الموقعین کښې د څلورمی صدی په هکله داسې وائي:

„ وکان دين الله سبحانه و تعالیٰ أجل فی صدورهم، و اعظم فی نفوسهم، من ان یقدموا علیه رأیاً او معقولاً او تقلیداً او قیاساً ".

اعلام الموقعین ص ٦ ج-١

د دغو په سینو کښې د الله تعالیٰ د دین دی نه ډیر لوړ مقام ؤ او د هغوی په زړونو کښې د دې نه ډیر لوی ؤ چې په دې دین باندې رایه، عقلی امور، تقلید او یا قیاس مخکښې کړی.

نو د دی نه معلومه شوه چې ترڅلورمی صدی پورې تقلید نه ؤ بلکه امام ابن قیم دڅلورمی صدی د علماؤ د اتباعو د اولنی پراؤ په هکله هم داسې وائي:

„ زاهدین فی التعصب للرجال واقفین مع الحجة والاستدلال

يسيرون مع الحق أين سارت ركائبه» اعلام الموقعين ص۲۱ ج-۱

«هغوى د سرو لپاره د مذهبي تعصب څخه ځان ساته او د حجت او دليل سره ولاړ ؤ د حق سيرلبه برچي هرخوا ته رواني وى هغوى به هماغه لور ته تلل»

يعنى دا به يې نه ويل چې زما امام او مقتدا داسې ويلي دى نو زه به همدا منم او د بل چا به نه منم اگر چې د بل چا خبره د حجت او دليل په اساس حق وى بلكه هرچا به چې ورته حق وويل هغه به يې منل داسې نه ؤ لكه زمونږ د زمانې مقلدين چې حق ورته څرگند شي او خپله پرې هم اعتراف وكړى لكن مذهبي تعصب پرې دومره غالب وى چې هغه حقه خبره نه منى او هغه د مذهب خبره يې ټينگه كړې وى. د مثال په توگه به زه تاسو ته دحنفى مذهب د يوه متعصب مقلد خبره رانقل كړم:

محمود حسن بن ذوالفقار على الديوبندى په ترمذى باندې تقرير ليكلى دى په هغه كښې يوه مسئله دا ده چې: عبد الله بن عمر وائي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دي:

«البيعان بالخيار مالم يتفرقا» رواه البخارى ومسلم وابو داؤد والترمذي واللفظ له.

« اخیستونکی او خرڅونکی ترهغه پورې خیار لري چې تر څو جلا شوی نه وی».

پدې کښې اختلاف دی امام احمد، امام شافعی او عام محدثین وائي چې د دی تفرق څخه مراد تفرق بالأبدان دی یعنې بایع او مشتري ترهغه پورې اختیار لري ترڅو چې د هغه ځای څخه تللی نه وی. او ابوحنیفة وائي ددې تفرق څخه مراد تفرق بالکلام دی یعنی کله چې بایع وویل چې ما په تا خرڅ کړی او مشتری وویل چې ما أخیستی نو بیا اختیار نه لري.

د دې حدیث راوی عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د عمل څخه د محدثینو د مذهب تائید کېږي ځکه چې هغه به کله څه شی واخیست او یا به یې خرڅ کړ نو هغه ځای څخه به روان شو د دی لپاره چې بیع واجب شی لکه داعمل یې امام ترمذی په ص۲۳٦ ج-۱ کښې ذکر کړی دی. همدارنګه نور ډېر زیات احادیث په دی دلالت کوی چې مراد د تفرق څخه تفرق با لأبدان دی. او عجیبه خبره خو دا ده چې د احنافو دا مذهب دی چې راوی کله د روایت څخه خلاف وکړی نو د هغه راوی به عمل أخیستل کېږي. او راوی چې د کوم حدیث روایت کړی دی هغه به پرېښودل کېږی

او دا أصل هم غلط دی ځکه چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلّم په إتباع مأمور یو نه د بل چا په اتباع.

او د همدی فاسد اصل په اساس احنافو د ډیرو زیاتو احادیثو خلاف کړی دی چې د هغې ذکر اوس د بحث څخه مونږ لیری کوی.

لکن د دی سره سره هم پدې ځای کښې احنافو د مذکور حدیث او د عبد الله بن عمر رضی الله عنهما د عمل خلاف کړی دی. نو محمود حسن دیوبندی پدې حدیث باندې د ډیر بحث نه وروسته داسې لیکی:

«فالحاصل إن مسئلة الخیار من مهمات المسائل و خالف أبوحنیفة فیه الجمهور وکثیراً من الناس من المتقدمین والمتأخرین صنفوا رسائل فی تردید مذهبه فی هذه المسئلة ورجح مولانا شاه ولی الله المحدث دهلوی قدس سره فی رسائل مذهب الشافعی من جهة الأحادیث والنصوص وکذلك قال شیخنا مد ظله یترجح مذهبه وقال: الحق والإنصاف ان الترجیح للشافعی فی هذه المسألة ونحن مقلدون یجب علینا تقلید امامنا إبی حنیفة». تقریر الترمذی ـ لمحمود حسن الدیوبندی ص۳۵ ط۳٦ «حاصل دا دی چې د خیار مسئله د ډیرو مهمو مسائلو څخه ده

او ابوحنیفة پدی کښې ذ جمهورو علماؤ او د مخکنیو او ورووستنیو ډېرو خلکو خلاف کړی او پدی مسئله کښې مخکنیو او وروستنیو ډېرو علماؤ د ابوحنیفة د مذهب په خلاف او تردید کښې ډېری رسالی لیکی دی. او محدث دهلوی شاه ولی الله هم پخپلو رسالو کښې د احادیثو او نصوصو له أمله د شافعی مذهب ته ترجیح ورکړې. او همدارنګه زموږ استاذ هم ویلی دی چې د شافعی مذهب صحیح دی او ویلی یې دی چې حق او انصاف دا دی چې پدی مسئله کښې ترجیح د شافعی طرفته ده. لکن موږ مقلدین یو او موږ باندې د خپل امام تقلید واجب دی.»

نو دا څومره د افسوس خبره ده چې یو سړی

احادیث او نصوص، حق او انصاف پرېږدی

او د مذهب پسی ځی که دارنګه تقلید شرك نه وی نو اخر شرك به څه وی.

او ددی تقلید د مرض سبب او علت دا دی چې د قرآن او حدیثو څخه دغه علماؤ خلك لیری کړی دی د فقهاؤ اقوال او یونان فلسفی یې دین ګڼلی او قرآن او حدیث یې شاته غورځولی نو هغسې علماؤ ته یو حق پرست عالم داسې وائي:

ايــا علماء الهند طال بقاءكم
و زال بفضل الله عنكم بــلاءكم
رجوتم بعلم العقل فوز سعادة
وأخشى عليكم ان يخيب رجاؤكم
فلا في تصانيف الاثير هداية
ولا في اشارات ابن سينا شفاءكم
ولا طلعت شمس الهدى من مطالع
فأوراقها ديجوركم لا ضياءكم
ولا كان شرح الصدر للصدر شارحا
بل ازداد منه في الصدور صداءكم
وبازغة لا ضوء فيها اذا بدت
واظلم منها كالليالي ذكاءكم
وسلمكم مما يفيد تسفلا
ليس به نحو العلى ارتقاءكم

فما علمكم يوم المعاد بنافع
فيا ويلتى ما ذا يكون جزاءكم
أخذتم علوم الكفر شرعاً كأنما
فلاسفة اليونان هم انبياءكم

مرضتم فزد تم علة فوق علة
تداووا بعلم الشرع فهو دواءكم
صحاح حديث المصطفى وحسانه
شفاء عجيب فليزل منه داءكم

ترجمه:

اى دهند علماؤ د ډېر وخته پورې ژوندى اوسئ او د الله په فضل دى تاسو نه ستاسو بيمارى ليرى شي د عقل په علم باندې د اخرت د نيك بختئ اميد لرئ، او ويريږم چې ستاسو دا اميد به برباد شى، نه د اثير په تصانيفو كښې هدايت شته، او نه د ابن سينا په بنديځانو كښې، د هدايت لمر د مطالعو څخه نه دى ختلى، د دى كتابونو پاڼې تا لپاره تيارى دى او رڼا نده، د صدر شرحى كښې د سينې پراخې نشته، بلكې ستاسو سينو كښې له دى نور هم درد زيات شو، كله چې دا كتابونه د شمس بازغه بنكاره شي نو هيڅ رڼا پكښې نه وى، او د دى نه هم د شپې غوندى ستاسو ذكاء زيا ته تياره ده، او سلم كتاب ته هم رابنكته كول كوى، او پورته خواته تاسو نشى پورته كولاى، نو د قيامت په ورځ دا ستاسو علم تاسو ته هيڅ

فائده نه رسوی، لوهای أفسوس چې ستاسو بر څه جزاء وی، تاسو د کفر علوم و ته شرعه جوړه کړی ده، داسې ښکاری لکه چې دیونان فلاسفه ستاسو أنبیاء وی".

تاسو نا جوړه شوی یاست او مرضونه مو ډیر شوی دی، لو د شرعی په علم دواء وکړی چې دا ستاسو دارو دی د رسول الله صلی الله علیه وسلّم صحیح او یا حسن احادیث یوه عجیبه شفا ده لو په هغې دی ستاسو مرض لیری شی.

څه عجیبه دارو یې روحی بیمارانو ته وښودل لوراځه ای د شرك، تقلید او بدعت بیمارانو په قرآن او حدیثو باندې د خپلو روحی امراضو دارو وکړئ.

# د تقلید رد د سلف صالحینو څلورو امامانو

# او نورو د امت د علماؤ د اقوالو په تأیید

ټولو سلف صالحینو، څلورو مشهورو امامانو او د اسلامي امت نامتو علماؤ د تقلید رد کړی دی چې د هغوی ځینې اقوال به د نمونې په شکل زه لوستونکو ته را نقل کړم.

په یوه روایت کښې راځي:

عن ابن عباس قال لیس منا أحد الا یؤخذ من قوله ویدع غیر النبی صلی الله علیه وسلم. رواه احمد

د عبدالله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دی هغه وائي چې زمونږ نه هیڅ یوکس نشته مګر د هغه ځینې خبره به اخیستل کیږي او ځینې به پرې منلول کیږي غیر د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه».

هم دار نګه

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وائي:

لا یقلدن أحدکم دینه رجلا ان آمن آمن وان کفر کفر فإنه لا أسوة فی الشر» اعلام الموقعین ص۱۷٦ ج-۲ تفسیر اضواء البیان ص۴۹۴ ج۷

ستاسو یوکس دی په دین کښې دیوه سړي څخه تقلید

نه کوی چې که هغه ایمان راوړی نو دا هم ایمان راوړی او که هغه کافر شو دا هم کافر کیږي ځکه چې په شرک تا بعداری نشته ».

شیخ الاسلام ابن تیمیة وائي:

وهؤلاء الأئمة الاربعة رضی الله عنهم قد نهوا الناس عن تقليدهم في كل مايقولونه»

مجموع فتاوی ص ۲۱۱ ج ۲۰ - دغه څلور امامان دي چې خلک يې ددوی په هره خبره کښې د تقلید څخه منع کړي دي ».

امام ابن قیم وائي :-

وقد نهى الائمة الاربعة عن تقليدهم و ذموا من أخذ اقوالهم بغير حجة » اعلام الموقعين ص ۱۸۱ ج ۲ .

څلورو امامانو (ابو حنیفة، مالك، شافعي او احمد) دخپل تقلید څخه خلك منع کړي دي او چا چې د هغوی اقوال بې دلیله واخیستل هغه نه امامانو بد ویلي دي ».

علامه شنقیطي وائي :

اعلم أن الائمة الاربعة رحمهم الله متفقون على منع تقليدهم التقليد الاعمى الذى يتعصب له من يدعون انهم اتباعهم ولوكانوا أتباعهم حقاً لما خالفوهم في تقليد هم الذى منعوا منه و نهوا عنه »

تفسیر اضواء البیان ص ۵۳۹ ج ۷ .

«پوه شه چې څلور امامان رحمهم الله د هغوی د تقلید په منع متفق دی داسې روند تقلید چې ځینی هغه متعصبین خلك يې کوی او دا دعوه لری چې مونږ د دی امامانو تابعدار یو، نو که دوی د هغه امامانو په حقه تابعدار وای دوی بر د هغوی داسې خلاف نه وُکړی چې هغوی تقلید منع کړی دی او دوی يې تقلید کوی.»

امام ابو حنیفه وائي:

لاینبغی لمن لم یعرف دلیلی ان یفتی بکلامی»

حجة الله البالغة ص۳۴۱.

«چا ته دا مناسب ندي چې زما دلیل يې نه وی پیژندلی او زما په خبره فتویٰ ورکړی».

نو اوسنی حنفیان دا امام ابو حنیفه د دی قول نه مخالف دی ځکه چې د هغه دلائل ورته په ډیرو ځایو کښې معلوم نه وی او د هغه په مذهب فتویٰ ورکوی.

امام ابو حنیفه وائي:

اذا قلت قولاً وکتاب الله یخالفه فاترکوا قولی لکتاب الله.

کله چې ما څه خبره وکړه او د الله د کتاب نه مخالفه وه نو زما خبره د الله کتاب لپاره پریږدی».

چا ورته وویل که د رسول الله صلی الله علیه وسلّم قول یې مخالف وي؟

هغه وویل:

«اترکوا قولی لخبر الرسول صلّی الله علیه وسلّم.»

« زما خبره د رسول الله صلّی الله علیه وسلم د حدیث لپاره هم پریږدئ»

چا ورته وویل: که د صحابه وُ قول یې مخالف وي.

هغه وویل:

«اترکوا قولی لقول الصحابة». فتح المجید ص۱۹ هدیة السلطان

زما قول د صحابه وُ قول لپاره هم پریږدئ»

او د هغه حنفیانو په حال زیات افسوس دی چې صحیح حدیث ورته ورسیږي خو بیا هم د امام ابوحنیفه خبره نه پریږدي هغه ورته وائي چې ماپریږده او دوی وائي چې مونږ به تا نه پریږدو.

امام ابوحنیفه وائي:

«إیاکم والقول فی دین الله تعالیٰ بالرأی وعلیکم باتباع السنة فمن خرج عنها ضل»

المیزان الکبریٰ للشعرانی ص۶۳ ج۱

«تاسو ځان وساتئ د الله تعالیٰ په دین کښې د رأیې نه

او تاسو هر و مرو د سنتو اتباع وکړئ او څوک چې د سنتو څخه ووتل گمراه شو.

امام مالک رح وائي:

«ما منا الا راد و مردود علیه إلا صاحب هذا القبر صلی الله علیه وسلم» . فتح المجید ص۱۰۲

«زموږ نه هيڅ یو کس نشته مگر هغه باندې خپله خبره بېرته واپس کېږي او نه منل کېږي غیر د دې قبر والا نه یعنی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم قبر ته ئې اشاره وکړه».

امام مالک وائي:

«انما انا بشر أخطئ وأصيب فانظروا فی رأیي فکل ما وافق الکتاب والسنة فخذو به وکل ما لم یوافق الکتاب والسنة فاترکوه» تفسیر اضواء البیان ص۳۹ ج۷.

«بې شکه زه بشر یم کله خطا کېږم او کله حق ته رسېږم نو زما رایه وګورئ زما هره رأیه چې د قرآن او حدیثو سره موافقه وه نو وائی خلئ او کومه چې د قرآن او حدیثو سره موافقه نه وه نو پرې ئې ږدئ».

امام شافعی رح وائي:

مثل الذی یطلب العلم بلا حجة کمثل حاطب لیل یحمل حزمة حطب وفیه افعیٰ تلدغه وهو لایدری».

اعلام الموقعین ص ۱۸۱ ج - ۳

« د هغه چا مثال چې د بې دلیله علم طلب کوی د هغه چا په شان دی چې د شپې خاشاك را تولوی یوه کیږدۍ راواخلی او په هغې کښې ماروی هغه یې وچیچی او دا پرې نه پوهیږي ».

همدارنګه وائي:

اذا صح الحدیث فهو مذهبی» تفسیر اضواء البیان ص ٥٤ ج - ٧

"کله چې حدیث صحیح ثابت شو نو همدا زما مذهب دی".

همدارنګه امام شافعی وائي:

"أجمع المسلمون علی ان من استبانت له سنة رسول الله صلی الله علیه وسلم لم یکن له ان یدعها لقول احد من الناس" . اعلام الموقعین لابن القیم ص ٧ ج - ١

مسلمانانو پدی اجماع کړیده چې چاته د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت ښکاره شو نو هغه ته دا روا نده چې د هغه سنت په خلکو کښی د یو چا د قول له امله پریږدي".

امام شافعی رح وائي:

"إذا صح الحدیث بما یخالف قولی فاضربوا بقولی الحائط"

وإذا رأيت الحجة موضوعة على الطريق فهي قولي».

مجموع فتاوى ص۲۱۱ ج۲۰

«كله چې صحيح حديث راغي او زما دقول مخالف وي نو زما خبره پر ديوال وولئ او كله چې تا دليل وليد چې پر لاره كښې ايښى وي نو هغه زما قول دى».

امام احمدؒ وائي :

«لا تقلدني ولا تقلد مالكا ولا الثوري ولا الأوزاعي وخذ من حيث أخذوا».

وقال : «من قلة فقه الرجل ان يقلد دينه الرجال».

اعلام الموقعين ص۱۸۲ ج۲ . مجموع فتاوى ص۲۱۲ ج۲۰

زما تقليد هم مه كوئ او د مالكؒ سفيان ثوري او اوزاعي تقليد هم مه كوئ او د هغه ځاى څخه دين واخله چې هغوى اخيستى (قرآن او حديثو څخه) او وائي چې «ديوه سړي د ناپوهۍ او فقاهت د كموالى څخه دا هم ده چې خپل دين د سړيو نه تقليد وي».

امام احمدؒ وائي :

عجبت لقوم عرفوا الإسناد وصحته ويذهبون إلى رأى سفيان والله تعالى يقول : «فليحذر الذين يخالفون عن

أمره أن تصيبهم فتنة او يصيبهم عذاب أليم، أتدري ما الفتنة؟ الفتنة الشرك. لعله إذا رد بعض قوله أن يقع فى قلبه من الزيغ فيهلك » فتح المجيد ص۴۶۶

« زه هغه قوم ته تعجب کوم چې سند او سند صحت ئې پېژندلی دی او بیا د سفیان رأیې پسې ځي او الله تعالیٰ فرمائي: هر و مرو دی وویرېږي هغه کسان چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د طریقې او حکم څخه مخالفت کوي چې دوی ته به فتنه ورسېږي او یا به ورته دردناك عذاب ورسېږي، ایا ته پوهېږې چې فتنه څه شی دی؟ فتنه شرک دی.

کېدای شي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینې خبرې رد کړي (قبولی او عملی ئې نکړي) نو د ده په زړه کښې به کوږ والی پیدا شي او هلاک به شي ».

نو دا هغه غلور امامان دي چې د دوی مقلدین ئې په هر څه کښې تقلید کوي که صریح نص د قرآن کریم او صحیح حدیث هم راشي او د دوی د امام خبره د دغه نص څخه مخالفه وي نو دوی نص پرېږدي او د امام خبره اخلي او یا د امام نه د وړولاندی خلکو خبره اخلي . لکه چې صاوي ویلي دي چې زمونږ د امام خبره د قرآن کریم یا حدیث او یا د اجماع څخه هم مخالفه وی نو مونږ به دا د رواړه پرېږدو او د امام خبره به اخلو. نو همدغه

تقلید شرک دی اود همدی تقلید ځکه مونږ ه څلورو وارو اماما نو منع کړي یو . همدا رنګه د اسلامی امت نورو علماؤ هم تقلید منع کړیدی .

ابو عبدالله بن خوازمنداد البصری وائي :

والتقلید فی دین الله غیر صحیح وکل من اوجب الدلیل علیك اتباع قوله فأنت متبعه والإتباع فی الدین مسوغ والتقلید ممنوع .

اعلام الموقعین ص ۱۷۸ ج ۲

دالله په دین کښی تقلید صحیح ندی او هر هغه څوك چي په تا باندی دلیل د (قرآن او حدیث) څخه د هغه د قول اتباع لازمه کړي نو ته د هغه متبع يې او اتباع په دین کښی رواده او تقلید منع دی .

عبدالله بن معتمر وائي :

"لا فرق بین بهیمة تنقاد و انسان یقلد" .

تفسیر اضواء البیان ص ٤٩٤ ج ۷ — اعلام الموقعین ص ۲۳٦ ج ۲

" د هغه حیوان او چار پای په منځ کښی چي پړی یکښی وي او څوك يې راښکاږي او د هغه انسان چي تقلید کوي هیڅ فرق نشته ".

ابن عبدالبر د مزنی قول داسی را نقلوي :

"یقال لمن حکم بالتقلید هل لك من حجة فیما حکمت به؟

فإن قال نعم أبطل التقليد لأن الحجة أوجبت ذلك عنده لا التقليد . فإن قال حكمت به بغير حجة قيل له فلم أرقت الدماء وأبحت الفروج وأتلفت الأموال وقد حرم الله ذلك إلا بحجة . قال الله عز وجل ( إن عندكم من سلطان بهذا ) اى من حجة بهذا .

تفسير اضواء البيان ص ٤٩٧ ج ٢

چاچې په تقليد يوحكم وكړ بايد ورته وويل شي چې ايا تاچې په څه شي حكم وكړ څه دليل درسره ؤ ؟ كه يې وويل چې: هو ! نو تقليد يې باطل كړ ځكه چې دليل داحكم واجب كړ نه تقليد . اوكه وئې ويل چې مابې دليله حكم وكړ نو بايد ورته وويل شي چې ولې دې ( بېدې بې دليله حكم ) وينې توې كړې او فرجونه (ښځې) دې روا كړې اومالونه دې لوټ كړل حال داچې داكار الله تعالى بې دليله حرام كړى دى . الله فرمايلي دي : اياتاسوسره پدې څه دليل شته ؟ .

علامه محمد بن اسماعيل الأمير اليمانى وائي :

علام جعلتم ايها الناس ديننا ... لأربعة لا شك فى فضلهم عندى
هم علماء الدين شرقاً ومغرباً ... ونور عيون الفضل والحق والزهد
ولكنهم كالناس ليس كلامهم ... دليلاً ولا تقليدهم فى غد يجدى

ولازعمواحاشاهم أن قولهم . دليل فيستهدى به كل مستهدى
"ای خلکوتاسو پرکوم دلیل دازمونږ دین هغوخلورو
امامانو پورې تړلی دی چې زماپه نزد د هغوي په فضیلت
کښې هیڅ شک نشته هغوی په مشرق اومغرب کښې د دین
علماء دی او د فضیلت ، حق او زهد د ستر گورنیاده ، لکن
دوی هم دنورو خلکوغوندی دي چې د هغوی خبره دلیل
ندی او نه يې تقلید سباورځی لپاره ختمه کړی ده لری او دی امامانو
داهم نه دي ویلی چې زمونږ قول داسې دلیل دی چې هرڅوک
پری هدایت مومي".

ملا علی القاری حنفی وائی :

"لایجب علی أحد من هذه الأمة أن یکون حنفیاً اومالکیاً
اوشافعیاً اوحنبلیاً". بحوالة هداية السلطان ص١٦

پدی امت کښې هیچا باندی دالازم ندي چې یادی حنفی
وي اویادی مالکی وي اویادی حنبلي وي ".

د حنفی مذهب مشهور عالم ابن همام د حنفی فقهی په
اصولو "التحریر" کښې لیکی :

"ان التزام مذهب معین غیرلازم علی الصحیح لان
التزامه غیرملزم اذلا واجب إلا ما أوجبه الله ورسوله
ولم یوجب الله ولا رسوله علی احد من الناس أن یتمذهب

على مذهب رجل من الأئمة فيقلده في دينه في كل ما يأتي ويذرون غيره ".

حوالة هدية السلطان ص۱۵

"صحيح خبره داده چې ديوه تا کلي مذهب لازم گڼل په ځان باندی ضروري ندي ځکه چې دالازم گڼل لازم شوي ندي ځکه چې واجب نشته مگر هغه چې الله تعالیٰ واجب کړي وي اود الله تعالیٰ رسول واجب کړي وي، اودا نه الله تعالی واجب کړي او نه د هغه رسول چې يو څوک دی دامت ديوه سړي په مذهب وي او په دين کښی دی په هر څه کښی د هغه تقليد کوي اود نورو سړو چې څه وي هغه دی پريږدي "

علامه خجندی ليکی :

"وماكفر غالب من كفر من الأولين والآخرين إلا بالتقليد للأحبار والرهبان والمشايخ والآباء" .

هدية السلطان ص۸

"د مخکښنو او وروستنيو څخه زيات خلك چې كافر شوی دي هغوی دعلماؤ، پيرانو، مشايخو اويلرونو په تقليد كافر شوي ؤ "

خجندی بل ځای کښی ليکی :

"ولكن الأسف ألف أسف من المقلدين المتأخرين والمؤلفين الذين سودوا الدفاتر وقد ظنهم الناس أنهم علماء مجتهدون معصومون فهم قد الزموا الناس تقليد واحد من الأئمة الأربعة ومذاهبهم المعروفة فبعد الإلتزام حظروا الأخذ والعمل بقول غيره كانهم جعلوه نبيا مرسلاً مطاعاً" هدية السلطان ص٩

"دوړ وستنيو هغو مقلد ينواو مؤلفينو په هکله زړخله افسوس دى چې کتابونه يې ډک کړيدى او خلک پرى ګمان کوي چې هغوى علماء او معصوم مجتهدين دي ځکه چې دوى دخلوړو امامانو تقليد او معلوم مذهبونه په خلکو لازم کړيدي او بيا يې دنوروخلکو قول اخيستل او په هغې عمل کولو څخه خلک ويرولي دي نودا داسې شو لکه چې دغه امام نه يې رالېږل شوى نبي جوړ کړى وي چې دهغه اطاعت کېږي".

همدا رنګه علامه خجندي په خپله رساله "هدية السلطان" کښې ليکي :

"وأما المذاهب فهى اراء أهل العلم وافهامهم فى بعض المسائل واجتهاداتهم وهذه الأراء والإجتهادات والفهوم لم يوجب الله تعالىٰ ولا رسوله على احد اتباعها، فإن فيها

الصواب والخطأ. ولا صواب خالصاً إلا ما ثبت عن رسول الله صلى الله عليه وسلم وكثيرا ما ذهب الأئمة إلى مسألة فبان لهم الحق في غيرها فرجعوا عنها »

هدية السلطان ص۶

دا مذاهب د علماؤ رأيې او په ځينو مسائلو کښې د هغوی فهم او اجتهاد و نه دي او د دی رأيو او اجتهادونو پوهې تابعداري په هېچا باندې نه الله تعالى او نه د هغه رسول واجبه کړېده ځکه چې په دی کښې حق ته رسېدل هم شته او خطا کېدل هم شته او حق ته رسېدل يوازې په هغو احاديثو کښې دي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت شوي وي او د ېرځلي امامان يوی مسألې خواته تللي دي او بيا ورته حق په بل څه کښې سېکاره شويدی نو د هغې مسألې څخه ئې رجوع کړېده».

بيا علامه خجندی ليکي :

«فدين الإسلام دين واحد لا مذاهب فيه ولا طرق يجب اتباعها إلا طريق محمد صلى الله عليه وسلم وهديه».

هدية السلطان ص۲

«نو د اسلام دين يو دی نه يکښې دا سی مذهبونه شته او نه پکښې دا سی طريقې چې د هغې تابعداري واجبه وي پرته

د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د طریقې اولاری څخه".

شیخ الاسلام ابن تیمیه وائي :

"ولیس لأحد أن ینصب للأمة شخصاً یدعو إلی طریقته ویوالی ویعادی علیها غیر النبی صلی الله علیه وسلم ولا ینصب لهم کلاماً یوالی علیه ویعادی غیر کلام الله ورسوله وما اجتمعت علیه الامة بل هذا فعل اهل البدع الذین ینصبون لهم شخصاً او کلاماً یفرقون به بین الأمة".

مجموع فتاوی ص ١٦٤ ج ٢٠

"هیچا ته دا روا ندي چې امت ته یو شخص ودروي او خلک د هغه طریقې ته رابلي او د هغه په طریقه باندې د خلکو سره دوستي او دښمني کوي پرته د رسول کریم صلی الله علیه وسلم څخه او نه ورته دا روا دي چې یوه خبره ورته وتاکي او په هغې باندې دوستي او دښمني کوي پرته د الله او د هغه د رسول د خبرو څخه. او امت په دی اجماع کړېده چې دا کار د بدعتیانو دی چې یو شخص یا یو کلام خلکو ته ودروی او د امت په منځ کښې پری جدائي راوړي".

او شیخ الاسلام ابن تیمه وائي :

"ولا یجب علی أحد من المسلمین التزام شخص معین غیر الرسول صلی الله علیه وسلم فی کل ما یوجبه او یخبر به بل کل

احد من الناس يؤخذ من قوله و يترك إلا قول الرسول صلى الله عليه وسلم" . مجموع فتاوى ص۲۰۹ ج-۲۰

• په هيڅ يوه مسلمان باندې ديوه ټاكلي شخص د مذهب تابعداري لازمه نده پرته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د تابعدارۍ څخه په هر څه كښې چې واجبوي ئې او يا مونږ ته خبر راكوي بلكې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پرته د هر چا خينې خبرې اخيستل كېږي او ځيني پر ېښوول كېږي" .

علامه ابن قيم په خپل كتاب اغاثة اللهفان ص۱۲۵ ج-۱ كښې ليكي:

"و من كيد الشيطان امرهم بلزوم زى واحد و لبسة و هيئة و مشية معينة و شيخ معين و طريقة مخترعة ومذهب معين و يفرض عليهم لزوم ذلك بحيث يلزمونه كلزوم الفرائض فلا يخرجون عنه و يقدحون فيمن خرج عنه و يذمونه كأكثر مقلدة المذاهب المعينة و اصحاب الطرق المتنوعة من الصوفية الخرافية كالنقشبندية والقادرية والسهروردية والشاذلية والتيجانية وغيرهم فالحذر الحذر مما هم عليه من التعصب والتقليد" .

• دا هم د شيطان د چلونو او دوكو څخه يو چل دى چې خلكو ته ئې امر كړى چې يو رنګ طريقه او لباس او يو

معین هیئت او تګ او تاکلی شخص او د ځانګړې شوې طریقه او تاکلی مذهب لازم وګڼي او د دې اتباع پرې داسې لازمه وګڼي لکه چې د اسلام د فرائضو اتباع لازمه ده، نو د دې طریقو او مذهبونو څخه نه. وځي او څوک چې ورڅخه ووتل هغه باندې تهمت لګوي او بد يې ګڼي. لکه د بېر د معینو مذهبونو مقلدین او د مختلفو طریقو والا د خرافي صوفیانو څخه لکه نقشبندیان، قادریان، سهروردیان شاذلیان، تیجانیان او داسې نور. نو کوم تعصب او تقلید چې د وې کوي له هغه د بېره په کلکه ورځه پکار ده"

علامه خجندی وایي :

• فیا ایها المسلمون إذا قلدنا مذهب رجل وبلغنا حدیث الرسول المعصوم صلی الله علیه وسلم الذی فرض الله تعالی علینا طاعته وترکنا حدیثه صلی الله علیه وسلم واتبعنا ذلك الرجل ومذهبه فمن أظلم منا وما عذرنا یوم یقوم الناس لرب العلمین . فمن یتعصب لواحد معین غیر الرسول صلی الله علیه وسلم ویری أن قوله هو الصواب الذی یجب اتباعه دون الأئمة الآخرین فهو ضال جاهل بل قد یکون کافراً یستتاب فإن تاب فبها وإلا قتل ؛ . هدیة السلطان ص۱۳

• نو ای مسلمانانو ! کله چې مونږ د یوه سړي د مذهب

تقلید وکړ او د معصوم رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث مونږ ته وړ سید ، هغه رسول چې الله تعالیٰ په مونږ باندې د هغه منل فرض کړیدی ، او مونږ پدې تقلید د هغه صلی الله علیه وسلم حدیث پرېښود او د دغه سړي او د ده د مذهب تابعداري مو وکړه نو مونږ نه به څوک زیات ظالم وي او په هغه ورځ به زمونږ ه عذر څه وي چې خلک به د عالمیانو رب په مخ کښې ولاړ وي نو چاچې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پرته دیوه تا کلي شخص لپاره تعصب وکړ او دائې نظر ؤ چې دا د ده قول هغه حق ته رسېدلی دي چې په مونږ يې تابعداري لازمه ده د نورو امامانو څخه پرته نو دا ګمراه او جاهل دی بلکې کله کله دا سړی داسې کافر دی چې د توبې کولو طلب به ورڅخه وشي که توبه ئې وویسته سبه ده کرنه نو وبه وژل شي ″ .

همدارنګه یو شاعر وائي :

ما الفرق بین مقلد فی دینه ‏ ‏ ‏ ‏ راض بقائده الجهول الحائر
وبهیمة عمیاء قاد زمامها ‏ ‏ ‏ ‏ أعمیٰ علی عوج الطریق الجائر

ریاض الجنة فی الرد علی اعداء السنة للشیخ مقبل بن هادی الوداعی

د هغه مقلد چې په خپل دین کښې تقلید کوي او په خپل ناپوهه او حیران مشر راضي وي او د هغه ړوند چارپای

او د تکرچې د هغه واکی د راندہ پہ لاس کېنې وي او پہ کړو وړو لاروڼي روان کړی وي څه فرق دی .

امام ابن حزم وائي :

واهرب عن التقليد فهو ضلالة ان المقلد في سبيل الهالك

د تقلید نه وتښتہ ځکہ چې دا ګمراهي ده او مقلد د هلاکت پہ لاره کېنې دی .

مولانای روم د تقلید پہ باره کېنې وائي :

گرچہ عقلت سوی بالا می پرد مرغ تقلیدت بہ پستی می چرد

منکر آن باشد کہ تقلیدی بود دین احمد را ز تحقیقی بود

مثنوی

کہ ستا عقل هرڅومره پورتہ الوزي خود تقلید مرغه دی ځ پہ ښکته څرېږي ، منکر هغه وي چې تقلید کوي د محمد صلی اللہ علیہ وسلم دین د تحقیق راز دی .

علامه شنقیطی وائي :

" وأما مقلدوه فقد ترك النظر في كتاب الله وسنة رسوله واعرضوا عن تعلمها اعراضاً كليا مع يسره و سهولته و نزلوا أقوال الرجال الذين يخطئون ويصيبون منزلة الوحي المنزل من الله " .

تفسیر اضواء البیان ص ۳۵۸ ج - ۷

"د ائمه ؤ مقلدينو د الله تعالى په كتاب او د هغه د رسول په سنتو كښې نظر پرېښې دى او ددى دوا رو د زده كړى څخه ئې بالكل اعراض كړى دى سره ددې چې د قرآن او حديث ډېر اسان دي او د غو مقلدينو د هغه خلكو چې خطا كېږى او حق ته رسېږي د هغوى اقوال ئې د الله تعالى له لوړى دوحى درجې ته رسولي دي" .

او علامه شنقيطي وائي :

" فالذين يقولون من الجهلة المقلدين هذا حلال و هذا حرام و هذا حكم الله ظناً منهم ان اقوال الإمام الذى قلدوه تقوم مقام الكتاب والسنة و تغنى عنهما و ان ترك الكتاب والسنة والإكتفاء بأقوال من قلدوه اسلم لدينه اعمتهم ظلمات الجهل المتراكمة عن الحقائق حتى صاروا يقولون هذا" .     تفسير أضواء البيان ص ۵٤۷ ج ۷

"نو هغه جاهل مقلدين چې وائي دا حلال دي او دا حرام دي او دا د الله حكم دى پدې گمان چې د دغه امام اقوال چې دوى ئې تقليد كړى دى د قرآن او حديثو په ځاى كښې ودرېږى او قرآن او حديثو ته ضرورت نشته او د قرآن او حديثو پرېښوول او د هغه خلكو اقوال چې دوى ئې تقليد كړى هغه كافى دى او دده دين د سالم پاتې كېدو لپاره سنه پوره دى

دوی دجهل کبلو تیاروُ دحقائقوځخه راندې کړیدی تردی چې دوی داسې خبرې کوي ،،.

داوسنی عصرنامتوعالم سید سابق وائي:

"وبالتقليد والتعصب للمذاهب فقدت الأمة الهداية بالكتاب والسنة وحدث القول بانسداد باب الإجتهاد وصارت الشريعة هي اقوال الفقهاء وأقوال الفقهاء هي الشريعة ".

فقه السنة ص۱۳ ج-۱

"په تقليد اود مذاهبو لپاره په تعصب باندې امت د كتاب الله اوسنة الرسول هدايت ورک کړ ، او دا خبره راپيدا شوه چې داجتهاد دروازه بنده ده او شريعت دفقهاؤ اقوال وګرځېدل او دفقهاؤ اقوال شريعت وګرځېده ".

همدارنګه نورودېروعلماؤ په تقليد باندې ردونه ليکلي دي چې د ټولو رانقلول به دلته داوږدوالي سبب وګرځي.

دېرناپوهه اوجاهلان دا وائي چې محدثين لکه امام بخاري مسلم ، ترمذى او داسې نور مقلدين وو حال داچې داخبره بالكل غلطه ده ځکه چې محدثين مقلدين نه وو بلکی هغوي په خپلو کتابونو کښې داسې احاديث رانقل کړيدي چې هغه دځلورواړو مذهبونو مخالف دي ، او هيڅ يوه محقق داندي ليکلي چې هغوي مقلدين وو بلکې علماء وائي چې هغوي

مقلدين نه وولکه‌چې شيخ الإسلام ابن تيميه وائي :

* اما البخاری وابوداود فإمامان فی الفقه من اهل الاجتهاد وأمامسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة وابن خزيمة وابويعلی والبزاز ونحوهم فهم علی مذهب أهل الحديث ليسوا مقلدين لأحد بعينه من العلماء .

مجموع فتاوی ص ٤٠ / ٢٠

* بخاری او ابوداود په فقه کښې امامان وو او مجتهدین وو او مسلم ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه ، ابن خزیمة ، ابویعلی بزاز او داسې نور د اهل حدیثو په مذهب وو ، او په علماؤ کښې دیوه ټاکلی شخص مقلدین نه وو .

نو د اهل حدیثو مذهب د عامو محدثینو مذهب دی او دا یو داسې مذهب دی چې د قرآن او حدیثو په دلیل ثابت ولاړ دی او اهل حدیث چاته دا نه وائي چې زمونږ د علماؤ خبره ومنئ بلکی وړته وائي چې د قرآن او د هر صحیح غیر مجروح حدیث چې د نسخې او تخصیص دلیل پکښې نوي تابعداري وکړئ ، نو ځکه چې اهل حدیثو سره بغض کوي هغوی د حدیثو سره بغض کوي ، او امام ابن قیم داسې خلکو ته وائي :

| | |
|---|---|
| یا مبغضا اهل الحدیث وشاتما | ابشر بعقد ولایة الشیطان |
| اوماعلمت بأنهم انصار دیـ | ـن الله والإیمان والقرآن |

او ما علمت بأن انصار الرسو ل هم بلاشك و لا نكران
هل يبغض الأنصار عبد مؤمن أو مدرك لروائح الإيمان

القصيدة النونية

« ای اهل حدیثو سره کینه او بغض کوونکیه او هغوییته کنځلی کوونکیه ته پدی پوه شه چې تا د شیطان سره دوستی شروع کړیده ، ایا ته نه پوهیږی چې اهل حدیث د الله د دین ایمان او قرآن انصار دي ایا ته پدې نه پوهیږی چې دوی بې شکه او بې انکاره د رسول الله صلى الله عليه وسلم انصار دي ، ایا داسی یو بنده د انصارو سره بغض کوي چې هغه مؤمن وي او یا ئې د ایمان بوی میندلی وی .

نو اهل حدیث هغه خلك دي چې په قرآن او حدیثو عمل کوي او حدیث د رسول الله صلى الله عليه وسلم حدیثو او قرآن دواړو ته ویل کیږي الله تعالیٰ په قرآن هم د حدیثو اطلاق کړیدی لکه چې فرمائي : « فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ »

" نو په کوم حدیث به وروسته د قرآن نه دوی ایمان راوړي " .

ابو محمد هبة الله بن الحسن الشیرازي وائي :

عليك بأصحاب الحديث فإنهم على منهج للدين مازال معجماً
وما النور إلا في الحديث وأهله اذا ما دجا الليل البهيم و أظلما

تا ته دا پکار ده چې د اهل حدیثو سره ملګری شی ځکه چې

دوی همېشه لپاره د دین ترجمانی کوي ، او کله چې تېه تیاره شپه را وخېژي نو بیا ر ناشسته دی مګر په حدیثو کښې ده او په اهل حدیثو کښې ده ".

۱ د اسلام یو شاعر وائي :

تمسك بحبل الله واتبع الهدٰى ولا تك بدعياً لعلك تفلح

ولذ بكتاب الله والسنن التى اتت عن رسول الله تنجو وتربح

ودع عنك اراء الرجال وقولهم فقول رسول الله ازكى وأرجح

ولا تك فى قوم تلهو بدينهم فتطعن فى اهل الحديث وتقدح

إذا ما اعتقدت الدهر يا صاح هذه فأنت على خير تبيت وتصبح

* د الله په رسۍ منګولې ولګوه او د هدایت تابعداري وکړه او بدعتی کېږه مه دی لپاره چې کامیاب شی او د الله په کتاب او هغو سنتو لذت حاصل کړه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه راغلی دی نو خلاصی به و مومی او خوشحاله به شی ، او د خلکو رائي او خبري پرېږده څکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خبره ډېره پاکه او راجح ده . او د هغه قوم څخه مه کېږه چې د خپل دین څخه غافل دي او د اسې مه کېږه چې اهل حدیثو ته بد وائي او تهمت پرې لګوي ، که ستا تول زمانه د غسې پاک عقیده وه نو ستا سهار او بېګا به په خیر کښې وي ".

ابو محمد هبة الله بن الحسن الشیرازی وائي :

واعلى البرايا من إلى السنن اعتزى

داعمى البرايا من إلى البدع انتمى

ومن ترك الأثار ضلل سعيه

وهل يترك الآثار من كان مسلماً

په خلکو کښې اوچت او غوره خلک هغه دي چې د پیغمبر سنتو ته ئې ځان منسوب کړي وي ، او په خلکو کښې رذيله هغه دي چې بدعاتو ته منسوب وي (مبتدعین وي) -

یو بل شاعر وائي :

لا ترغبن عن الحديث وأهله      فالرأى ليل والحديث نهار

" د حدیثو او اهل حدیثو نه مخ مه اړوه ځکه چې رایه شپه او حدیث ورځ ده "

یعنی حدیث داسې پاکه او روښانه لار ده لکه چې ورځ رڼا ده . او د حدیثو مقابله کښې د بل چا خبره او رایه داسې تیاره او توره ده لکه شپه چې توره ده .

الله تعالیٰ مونږ پدی مامور کړي یو چې د وحی تابعداري وکړو او هغه خلک چې د وحی تابعداري کوي هغوي به په دنیا کښې د ضلالت او بې لارئ کېدو څخه بچ وي او په آخرت کښې به د شقاوت او بدبختۍ څخه نجات ومومي او هيڅ وېره او غم به پرې نه وي. الله تعالیٰ فرمائي :

"فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ" - البقره ۳۸

"که تاسو ته زما له لوري هدايت راغي نوچاچي زما د هدايت تابعداري وکړه په هغوي به نه ويره وي اونه به غمجن وي".

او بل ځای کښې الله تعالیٰ فرمائي :

"فإما يأتينكم مني هدی فمن اتبع هدای فلا يضل ولا يشقی".

"که تاسو ته زما له لوري هدايت راغی نوچاچي زما د هدايت تابعداري وکړه نونه به ګمراه شي اونه به بدبخته شي".

پدې دواړو آيتونو کښې الله تعالیٰ د هدايت تابعدار وته زيری ورکړچې د ضلالت ، شقاوت ، ويری او غم څخه به خلاص شي ، او هدايت د وحی تابعدارئ ته ويل کيږي او وحی عبارت د قرآن او حديث څخه دي ځکه چې الله تعالیٰ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته فرمائي :

" قُلْ إِنَّمَا أُنذِرُكُم بِالْوَحْيِ . (الأنبياء - ٤٥)

" ورته ووايه چې زه تاسو يوائې په وحی ډيروم ".

تفسير اضواء البيان د مخکښيو دوه آيتونو په تفسير کښې داسې ليکي :

"ولاشك ان انتفاء الضلال والشقاوه والخوف والحزن عن متبعي الوحي المصرح به في القرآن لايتحقق فيمن يقلد عالماً ليس بمعصوم، لايدري أصواب ماقلده فيه ام خطأ في حال كونه معرضاً عن التدبر في كتاب الله وسنة رسوله صلى الله عليه وسلم ولاسيما إن كان يظن أن اراء العالم الذى قلده كافية مغنية عن كتاب الله وسنة رسوله صلى الله عليه وسلم"

تفسیر اضواء البیان ص ۴۸۲ ج-۷ ص ۴۸۳ ج-۷

"په دې کښې شک نشته چې د وحی د تابعدارانو څخه چې کومه گمراهي شقاوت، ويره او غم په قرآنکريم کښې نفي شوی دا د هغه چا لپاره نشي کیدای چې دیوه داسې عالم تقلید کوي چې هغه معصوم ندی او دا مقلد نه پوهيږي چې په کومه مسأله کښې ده دچا تقلید کړیدی دا مشرئي په هغې کښې حق ته رسیدلی دی او که خطا شو یدی په داسې حال کښې چې ده دالله تعالی دکتاب او دهغه د رسول د سنتو څخه اعراض کړیدی، خصوصاً هغه وخت چې دا مقلد گمان کوي چې ده دچا تقلید کړ یدی د ده ته دهغه رأيې بس دي او د الله تعالی کتاب او د هغه د رسول سنت ته څه ضرورت نه پاتې کیږي."

نو مونږ همدا وایو چې ای خلکو راځئ د وحی تابعداري

وکړو ځکه چې دوحی نه غیر بل هیڅ شی کینې هدایت نشته او وحی کښې فقط دوه شیان دی چې یو قرآن دی او بل نبوی احادیث دي ځکه چې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د وفات نه وروسته وحی بنده شو یده او دهغه نه وروسته په امت کښې هیڅ یو وحی نده شوی او نه به وروسته وشي، هر کله چې وحی نه راځی نو په امت کښې داسې معصوم څوک نشته چې دهغه ټولې خبرې دی صحیح او حق ته رسیدلی وي بلکې دامت هر څوک به کله خطا کیږي او په خطا به مأجور وی او کله به حق ته رسیږي لکن مونږ باندې دچا اقوالو پسی تلل لازم ندي بلکې ناروا دي . نو په همدې ګناه مونږ باندې علماء سوء او باطل پرست خلک دول دول نومونه ږدي او غواړی چې خلك دحق د قبول نه منع کړي .

نو ځکه امام ابن قیم وائي :

| | |
|---|---|
| اسماء سمیتم بها اهل الحدیث | وناصري القرآن والإیمان |
| سمیتموهم انتم وشیوخکم | بهتا بها من غیر ما سلطان |
| وجعلتموها سبة لتنفروا | عنهم کفعل الساحر الشیطان |
| ما ذنبهم والله إلا أنهم | اخذوا بوحی الله والفرقان |
| وابوا بأن یتحیزوا لمقالة | غیر الحدیث ومقتضی القرآن |
| وابوا ید ینوا بالذی دنتم به | من هذه الأراء والهذیان |

القصيدة النونية

هسې نوموړ دي چې تاسو په اهل حديثو اود قرآن او
ايمان په امداديانو ايښې دي تاسو اوستاسې مشرانو پرې
بې دليله په تهمت دانوموړ ايښي دي ، اوبيا مودا نومونه
کنځل گرځولي دي او دا ددې لپاره چې خلک پرې متنفر کړئ
ستاسو دا کار دجوگي ساحر اوشيطان په څېر دی ، والله چې
دا اهل حديثو بله گناه نشته مگر داچې هغوې د الله وحی او
قرآن اخيستی دی او ددی نه انکار کوي چې دقرآن دمقتضیٰ
او دحديثو نه غير د بل چا خبرې ومنی ، او هغوې د دغه دين
چې تاسو يې کوئ چې هغه دخلکو رأی او باطلې خبرې دي
د هغه انکار کوي .

نوموړ يواځې اويواځې خلکو ته داوايو چې د الله تعالیٰ کتاب
ومنئ اود الله تعالیٰ د رسول محمد صلی الله عليه وسلم احاديث ومنئ
اوداخبره داسلام دښمنانو باندې ډېره بده لگېږي نو بيا
ورسره څه دليل نوي نوکله وائي چې دا وهابيان دي
او کله وائي چې دا مذهب نه مني او کله څه او کله څه وائي
او په دې نومونو غواړي چې خلک له حق څخه بند کړی او د
صحيحې عقيدې او صحيح دين څخه يې متنفر کړي ، موږ
وايو چې موږ مؤمنان او مسلمانان يو يواځې قرآن او حديث

متو او د قرآن او حدیثو خلاف خبره چې د هرچا وي مونږ یې منلو ته تیار نه یو نوکه دغه رنګه خلکو ته تاسې وهابیان وائی نو وهاب د الله نوم دی او مونږ د الله بندګان یو نو مونږ بیا وهابیان یو لکه چې یو شاعر وائي :

إن كان تابع احمد متوهباً فأنا المقر بأ سنی وهابی
انفی الشريك عن الإله فليس لی رب سوى المتفرد الوهاب
لا قبة ترجى ولا وثن و لا قبر له سبب من الأسباب
كلا ولا حجر ولا شجر ولا عين ولا نصب من الانصاب
ايضا ولست معلقا لتميمة اوحلقة او دعة او ناب
لرجاء نفع اولدفع بلية الله ينفعني و يدفع ما بی
والابتداع وكل امر محدث فی الدين ينكره اولوا الالباب
أرجو بأنی لاأقاربه ولا أرضاه ديناً وهو غيرصواب

ترجمه : که د محمد صلی الله علیه وسلم تابعدار وهابی وي نو زه پدې اقرار کوم چې زه وهابي یم زه د الله تعالی سره شریك نفي کوم نو دیواخې وهاب رب نه سوا زما بل رب نشته نه د کومې ګومبزې نه امید کیدای شي او نه د کومې درګاه نه او نه کوم قبر د اسبابو څخه ورته سبب جوړیدای شي . همدارنګه نه د کومې تیګې نه او نه د کومې ونې نه او نه د کومې چینې نه او یا بلې درګاه نه د فایدې امید کیدای شي

همدا رنګه نه زه تعويذ ترم او نه کوم بند ترم او نه څه غابن غاړه کښې اچوم دى لپاره چې کو ندى څه فائده به راته ورسوي او يا به راځنځه مصيبت ليرې کړي ، بلکې يو اځې الله ماته نفع رسوي او ماځنه تکليف ليري کوي ، هر نوى کار نه او په دين کښې له بدعت نه د عقل خاوندان انکار کوي زه اميد لرم چې داسې بدعاتو ته به نه زه نږدې شم او نه به ورته دين ووايم ځکه چې دا کارونه حق ندي بلکې باطل دي

ابو بکر بن عياش وايې :

" اهل الحديث في كل زمان كأهل الاسلام مع اهل الاديان "

الميزان الكبرى للشعراني ص ٥٧ ج ١ .

اهل حديث په هره زمانه کښې داسې دى لکه اهل اسلام چې د نورو اديانو تابعدارو سره فرق لري "

امام شافعي وايې :

" اهل الحديث في كل زمان كالصحابة في زمانهم "

الميزان الكبرى للشعراني ص ٦ ج ١ .

اهل حديث په هره زمانه کښې داسې دى لکه صحابه چې په خپله زمانه کښې وُ ".

# د اختلاف په وخت کښې

## د حل لاره

هر کله چې د مؤمنانو ترمنځ کښې اختلاف پیداشي نو د حل لاره یې داده چې په قرآن او حدیثو به فیصله کوي.
الله تعالیٰ فرمائي :

"یَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اَطِیْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِیْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِی الْاَمْرِ مِنْکُمْ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِیْ شَیْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَی اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ اِنْ کُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ذٰلِکَ خَیْرٌ وَّ اَحْسَنُ تَاْوِیْلًا" .

(النسا - ۵۹)

"ای مؤمنانو ! د الله ومنئ او د الله د رسول ومنئ - او د امیرانو چې ستاسو نه وي ، که ستاسو په څه شي کښې اختلاف پیداشو نو هغې رجوع الله او د هغه رسول ته وکړئ که تاسې په الله او د قیامت په ورځ ایمان لرئ ، دا تاسو لپاره ښه او ډېره غوره ده د عاقبت په نسبت".
الله تعالیٰ فرمائي چې که تاسو په الله او د قیامت په ورځ

ایمان لري نو داختلاف په وخت کښې الله او دهغه رسول یعني دالله کتاب او نبوي احادیثو ته رجوع وکړئ که په رښتیا مونږ دالله کتاب او د هغه د رسول سنت ومنل هیڅکله به زمونږ ترمنځ اختلاف پاتې نشي ، اختلاف د صحابه ؤ ترمنځ هم پېښېږه لکن کله به چې هغو ته د الله تعالی د کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو څخه دلیل وویل شو هغوې به دخپلو او یاد بل چا رایو او اقوالو پسې نه تلل بلکې د دلیل تابعداري به ئې کوله لکه د مثال په توګه :

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو نو اوله خبره دا وه چې عمر رضی الله عنه وویل دا به څوک نه وائي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو لکه چې دا واقعه محدثین او مؤرخین داسې را نقلوی :

"عن ابی هریرة قال : لما توفی رسول الله صلی الله علیه وسلم قام عمر بن الخطاب فقال ان رجالاً من المنافقین یزعمون أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قد توفی وأن رسول الله صلی الله علیه وسلم والله ما مات ولکنه ذهب إلی ربه کما ذهب موسی بن عمران فقد غاب عن قومه اربعین لیلة ثم رجع إلیهم بعد أن قیل قد مات ووالله لیرجعن رسول الله صلی الله علیه وسلم

كما رجع موسى فليقطعن ايدى رجال وأرجلهم زعموا أن رسول الله صلى الله عليه وسلم مات .

السيرة النبوية لابن هشام ص۳۰۵ ج-٤

"ابو هريرة رضي الله عنه وائي چي كله رسول الله صلى الله عليه وسلم وفات شونو حضرت عمر رضي الله عنه ودر پاڅېده او وئي ويل : ځيني منافقان داګومان کوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفات شو حال داچي په الله قسم دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفات شوى ندى لكن هغه خپل رب ته تللى دى لكه څنګه چي موسى بن عمران عليه السلام تللى ؤ هغه دخپل قوم څخه څلوېښت (٤٠) شپي غائب ؤ اوبيا ورته راوابس شو، او په الله قسم دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم به بيا داسي بېرته راځي لكه څنګه چي موسى عليه السلام راغلى ؤ نو د هغو خلكو خپي او لاسونه به غوڅ كړي چي وائي : رسول الله وفات شويدى" .

لكن حضرت ابوبكر رضي الله عنه چي كله خبر شو نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم دليدلو لپاره دعائشي رضي الله عنها كور ته ننوت اوكله ئي چي وليدل چي هغه وفات شوى . . . . . نو بيا راووت او حضرت عمر رضي الله عنه ته ئي وويل : چپ شه ؛ هغه چپ نشو بيا ابو بكر رضي الله عنه خلكو ته مخ كړ

او حمد و ثنائې ورېله بيانې وويل :

" يا ايها الناس إنه من كان يعبد محمداً فإن محمداً قد مات ومن كان يعبد الله فإن الله حي لا يموت " .

" اى خلكو كه چا د محمد صلى الله عليه وسلم عبادت كاوه نو محمد صلى الله عليه وسلم وفات شو او كه چا د الله عبادت كاوه نو الله ژوندى دى او نه مړكيږي " .

بيا ئې دا آيت ولوست :

" وما محمد إلا رسول قد خلت من قبله الرسل أفإن مات او قتل انقلبتم على اعقابكم ومن ينقلب على عقبيه فلن يضروا الله شيئا وسيجزى الله الشاكرين " .   آل عمران - ۱٤٤

" محمد ندى مګر رسول دى له ده نه مخکښى رسولان تيرشو يدي . ايا که مړ شو او يا وو ژل شو نو تاسو به وروسته ګرځئ ؟ او څوک چې وروسته وګرځيدو ( مرتد شو ) نو هيڅکله الله ته ضرر نشي رسولى او ژر دى چې الله به شکر کوونکو ته بدله ورکړى "

نو کله چې عمر رضي الله عنه دا آيت واوريدو نو حيران شو او په ځمکې را پريوته او وئې ويل :

" عرفت أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قد مات " .

"زه پدې پوه شوم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شویدی".

عمر رضی الله عنه چې کله آیت واورېد سمدستي دخپلی رائې او قول څخه وګرځېد او دلیل ته تسلیم شو او د اوسنیو ړندو مقلدینو غوندې يې ونه ویل چې ددې مطلب دادې او یا هغه دی، هېڅ تأویل او تحریف يې پکښې ونکړ بلکې خپله خبره يې پرېښوده.

همدارنګه بل خلاف د صحابه وُ منځ کښې دارا پیدا شو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چېرته ښخ کړو، ځینو وویل چې مسجد کښې يې ښخوو او ځینو وویل چې خپلو اصحابو سره يې ښخوو، ابوبکر رضی الله عنه وویل :

"إني سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم يقول : ما قبض نبي إلا دفن حيث يقبض".

السيرة النبوية لابن هشام ص ۳۱۶ ج ٤

"ما رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې : هر نبي چې مړ شوېدی نو هغه ځای کښې ښخ شوی کوم ځای کښې چې د هغه روح قبض شي".

نو کله چې حدیث بیان شو او دلیل پیدا شو ټول له خپلې رائې څخه وګرځېدل او حدیث يې ومانه.

# د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم د حکم مقابل کېښی د رأیي منل ګمراهي ده

الله تعالی فرمائي :

﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا ﴾

(الاحزاب - ٣٦)

« او هيڅ يوه مؤمن سړي او مؤمني ښځې ته دا روا ندی چې کله الله او د هغه رسول فيصله وکړي نو هغوئ ته دی د خپله ځانه څه اختيار وي او هغه چا چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړه نو بې شکه ګمراه شو په ښکاره ګمراهي سره » .

نو د قرآن او نبوی احاديثو په مقابل کېښی بيا د مؤمنانو دا اختيار نشته چې خپله او يا د بل قول او خوښه وړاندې کړي بلکې که دا کار چا وکړ هغه به لوی بد بخته او

اوګمراه وي .

همدا رنګه عوف بن مالك الأشجعي وائي :

« قال رسول الله صلى الله عليه وسلم تفترق امتي على بضع وسبعين فرقة اعظمها فتنة قوم يقيسون الدين برأيهم يحرمون به ما احل الله ويحلون به ما حرم الله »

اعلام الموقعين ص۵۳ ج-۱

« رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی : زما امت به په څه دپاسه اویا (۷۰) دلو وویشل شي ، په ټولوکښې دلوی فتنې والا به هغه قوم وي چې دین پر خپله رایه قیاسوي د الله حلال به پرې حراموي او الله چې څه حرام کړي هغه به حلالوي » .

رسول الله صلى الله عليه وسلم مخبر صادق دی رښتیا هم هغه څوک چې دخپلې رائې اوخواهش پسې تللی دي د بر حرام يې حلال کړیدی او د بر حلال يې حرام کړیدي اودا تحریم اوتحلیل پر حنفي فقهاؤ کښې د بر زیات دی هرڅه کښې يې له ځانه تقسیم کړیدی چې داحلال دي اوداحرام دي اودا مکروه دی، دا فرض دی اودا سنت دي ، دا مستحب دی اودا مباح دي ، حال داچې اکثره داسې وي چې هیڅ دلیل پرې نوي .

مالك بن مغول وائي چې ما تر شعبي وويل:

«ما حدثوك هؤلاء عن رسول الله صلى الله عليه وسلم فخذ به و ما قالوا برأيهم فألقه في الحش».

رواه الدارمي

«دغه خلکو که تاته د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه حديث بيان کړ نو وائي خله اوکه په خپله رايه ئي و ويل نو د قضاء حاجت په ځای (بيت الخلاء) کښې ئي وغورځوه».

ابوبکر رضي الله عنه وائي:

«اي أرض تقلني وأي سماء تظلني إن قلت في آية من كتاب الله برأيي او بما لا أعلم».

اعلام الموقعين ص ٥٣ ج ١

«کومه ځمکه به ما بار کړي اوکوم اسمان به پر ما سيوري وکړي که ما د الله د کتاب په يو آيت کښې له ځانه خبره وکړه او يا مې داسې څه وويل چې زه پرې سنه پوهېږم».

عمر رضي الله عنه وائي:

«السنة ما سنه الله ورسوله صلى الله عليه وسلم لا تجعلوا خطأ الرأي سنة للأمة».

اعلام الموقعين ص ٥٤ ج ١

سنت هغه دي چي الله تعالیٰ او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم
مونږ ته بیان کړیدی تاسو د نورو خلکو د رأیي خطاء
د امت لپاره سنت او لاره مه جوړ وئ » .

عمر رضی الله عنه وائي:

اتقوا الرأی فی دینکم » .

اعلام الموقعين ص۵۵ ج-۱

« تاسو په خپل دین کینی له رأيي څخه ووېرېږئ » .

همدارنګه عمر بن الخطاب رضی الله عنه وویل:

« أصحاب الرأی اعداء السنن اعيتهم الأحادیث ان یحفظوها و تفلتت منهم ان یعوها، واستحیوا حین سئلوا أن یقولوا لا نعلم فعارضوا السنن برأیهم فإیاکم وإیاهم» .

اعلام الموقعين ص۵۵ ج-۱ .

« د رأیي خاوندان د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو دښمنان دي دوی د حدیثو یادولو ستړی کړل (یاد يې نه کړل) او دوی ونه ساتل (یاد يې نه کړل) نو ورڅخه وتښتېدل او دا ورته شرم ښکاره شو چي کله ورڅخه پوښتنه وشي او ووایي چي مونږ نه پوهېږو، نو پخپله رأیه يې د سنتو خلاف وکړل نو تاسو د دغسي خلکو څخه ځان وساتئ »

ریښتیا هم مونږ چي په اوسني عصرکښي ګورو هغه علماء چي دخپل خواهش او د رأيي تابعدار دی دا ور ته شرم او عار ښکاري چي کله ورځنه پوښتنه وشي او دوی ووايي چي مونږ نه پوهیږو نو بې علمه فتوی يي خلکو ته ورکړي او زيات خلک يي د الله تعالیٰ د رالیږلي او غوره شوی دين څخه بل لوري ته روان کړل او س ورته دا عار ښکاري چي دحق تابعداري وکړي او د صحيح حديث لپاره خپله خبره پريږدی نو دين څخه يې داسي يو شی جوړکړي چي دخپلي غوښتني اوخپل خواهش تابع يې کړ فضلوا وأضلوا خپله هم ګمراهان شو او نور خلک يې هم بې لاري کړل.

همدارنګه عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وويل:

تاسو باندي به ورووستی کلونه د تيرشوونه ډير بد تر راځي بيا يې وويل چي ستاسو غوره خلک او علماء به له منځه لاړ شي (وفات به شي) بيا يې وويل:

«ثم يحدث قوماً يقيسون الأمور برأيهم فيهدم الإسلام» اعلام الموقعين ص ٥٧ ج ۱

«بيا به داسي خلک پيدا شي چي ټول د دين کارونه به په خپله رايه قياسوی او اسلام به نړوی».

علی رضی الله عنه وائي :

«لو کان الدین بالرأی لکان اسفل الخف اولی بالمسح من اعلاه وقد رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم یمسح علی ظاهر خفیه»

رواه ابو داود .

«که دین په رایه او خپله خوښه وای نو د موزی لاندی طرف به د پاس طرف نه د بهر د مسحې ور ؤ حال داچې ما رسول الله صلی الله علیه وسلّم لیدلای ؤ چې د موزو د پاسه طرف باندې به یې مسحه کوله»۔

نو علی رضی الله عنه هم په رایې رد کوی . او وائي چې که دین په قیاس او خپله خوښه وای نو زما په نزد به کار دا وه چې مسحه انسان د موزی په لاندینۍ برخه کولای او رسول الله صلی الله علیه وسلّم د موزو د پاسنۍ برخې باندې مسحه کړیده .

نو مونږ یې هم په پاسنۍ برخه کوو او خپلسه خوښه او قیاس پرېږدو .

عبد الله بن عباس رضی الله عنه وائي :

«من قال فی القرآن برأیه فلیتبوأ مقعده من النار»

اعلام الموقعین ص ۵۹ ج ۱ .

"چا چې په قرآن کښې په خپله خوښه او رأیه خبره وکړه نو ځانته دی د اور نه ځای جوړ کړی".

همدارنګه نور صحابه کرام رضوان الله علیهم هم د رأیې او قیاس رد کوي نو مسلمانانو ته دا لازمه ده خصوصاً علماؤ ته چې کله په یوه دیني مسئله کښې ورځنه پوښتنه وشي نو که د قرآن او حدیثو نه ورته د هغه مسئلی په هکله څه معلومات وُو د هغې مطابق دی جواب ورکړی او که نه ورته ووی وائي چې زه نه پوهېږم او دیوه بل عالم څخه پوښتنه وکړه ځکه چې دا عیب ندی چې یو څوک ووائي زه نه پوهېږم لکن دا یو لوی عیب دی چې بې علمه فتوی ورکړي نو ځان هم د هلاکت کندې ته د غورځوي او نور خلک هم ګمراه کړي .

سبحنك اللهم و بحمدك اشهد ان لا اله الا أنت استغفرك وأتوب إليك

○

# اتباع الرسول ﷺ

تاليف

أبو عبدالاحد عبدالرحيم مسلم دوست

(بلغة البشتو)

هذه الطبعة
تمت بإشراف المكاتب التعاونية للدعوة والإرشاد
بالبديعة والصناعية الجديدة

# اتباع الرسول ﷺ

تاليف

أبو عبدالاحد عبدالرحيم مسلم دوست

(بلغة البشتو)

سنة الطبع ١٤١٩هـ

طبع على نفقة أحد المحسنين
غفر الله له ولوالديه ولجميع المسلمين

*The Cooperative Offices for Call & Guidance at Al-Badiah & Industrial Area*
*Under the Supervision of the Ministry of Islamic Affairs Endowment Guidance & Propagation*
P.O. Box: 24932 Riyadh 11456 - K.S.A. (Al-Badiah) Tel.: 4330888 (Four Lines)
(Industrial Area) Tel.: 4303572 - Fax: 4301122